اِنَّ الشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيۡمٌ (القرآن)

په اسلامی عقائدو کښې رأس العقائد دَ عقیده توحید اهمیت او دَ عقیده توحید متضاد عقیدۀ شرك او دَ هغې مذمت باندې مشتمل یو جامع او عام فهم کتاب ، دَ توحید عقیدې دَ پوهې دَ پاره دَ دې کتاب مطالعه بې حده ضروری ده.

# عقیدۀ توحید او رد شرك

پښتو


مرتب
مولانا مفتی محمد ایاز درّانی صاحب حفظه الله





العلم پبلیکیشنز

اِنَّ الشِّرْکَ لَظُلْمٌ عَظِیْمٌ (القرآن)

# عقیده توحید او ردّ شرک

په دے کښے دَ قرآن کریم ، احادیث نبویه ﷺ او دَ سلفو عالمانو دَ کتابونو نه د اسلام بنیادی عقیدهٔ توحید ، د دے اهمیت اوفضلیت او دَ توحید مقابل دَ عقیدے کینسر یعنی دَ شرک قباحت ، تردید او اقسامو باندے تفصیلی بحث شوے دے۔

**تالیف**: ابو معاویه مولانا محمد ایاز صاحب

**پشتو ترجمه**: قاری فضل کریم عارفؔ

☆☆☆

**ناشر** :

اشاعت اکیڈمی محله جنگی پیښور

Mob:0300-9391643

﴿ټول حقوق په حق دَ ناشر محفوظ دي﴾

☆☆☆

دَکتاب نوم: عقيدهٔ توحيد او ردّ شرک

مصنف: ابو معاويه مفتي محمداياز صاحب

صفحات: 100

کمپوزنګ اينډ ډيزائننګ: سميع الله شبقدر خير آباد چوکی

مترجم: قاري فضل کريم عارفؔ

تعداد: ۱۰۰۰

تاريخ اشاعت: محرم ۱۴۳۰ھ فروري ۲۰۰۹ء

☆☆☆

ناشر:

اشاعت اکيډمي اينډ پرنټنګ ايجنسي

عبدالغني پلازه محلّه جنګي پښاور

091-5515698, 0300-9391643

# د عنواناتو فهرست

☆ تقریظ شیخ القرآن مولانا محمد طیب طاهری مدظله ـــ 3
☆ تقریظ مولانا مفتی محمد منیر شاکر مدظله ـــ 4
☆ تقدیم مولانا سید کفایت بخاری مدظله ـــ 5
☆ دَ توحید دَ عقیدے اهمیت ـــ 8
☆ دَ توحید معنیٰ او مطلب ـــ 14
☆ د الله تعالیٰ ذات ، صفات او افعال ـــ 15
☆ توحید او انعامات ربانی ـــ 24
☆ د شرک حقیقت ـــ 27
☆ دَ مشرک او دَ شرک مثال ـــ 28
☆ دَ شرک قباحت ـــ 33
☆ دَ شرک قسمونه ـــ 36
☆ شرک اعتقادی ـــ 36
☆ شرک فی العلم ـــ 37
☆ شرک فی التصرف ـــ 37
☆ شرک فی الدعاء ـــ 49
☆ شرک فی العبادت ـــ 51
☆ شرک فعلی ـــ 53
☆ تحریمات غیر الله ـــ 53

☆ نذور غیر الله ---------- 56

☆ شرک فی البرکات ---------- 59

☆ نور قسمونه ---------- 60

☆ فی التسمیه ---------- 61

☆ الحلف ---------- 63

☆ نجوم پرستی ---------- 64

☆ شرکیه تعویذ ، تار، بندونه ---------- 66

☆ د انبیاؤ دَ بعثت مقصد ---------- 70

☆ دَ اله معنیٰ ---------- 73

☆ دَ مشرکانو عقائد او اعمال ---------- 77

☆ دَ مشرکانو دَ بُتانو حقیقت ---------- 85

☆ شفاعت ---------- 91

☆ دَ شفاعت قسمونه ---------- 93

☆ دَ شفاعت شرطونه ---------- 93


☆☆☆

# ﴿تقریظ﴾

شیخ القرآن والحدیث مولانا محمد طیب طاهری مد ظلہ

بَعْدَ الْحَمْدِ وَالصَّلٰوۃِ! دَ یو انسان کردار، گفتار او چال ڈهال سره چه په معاشره باندے کوم اثرات مرتب کیږی، دَ هغه تحریر هم بالعموم دَ هم دغه اثراتو حامل وی۔ ولے چه تحریر او تقریر دَ یو انسان د مجموعی کردار حصه وی او دَ هغه دَ اندرونی شخصیت اظهار هم دَ هم دغے نه کیږی۔

زه په ډیر خوشخالئی سره دا خبره په کاغذ لیکم چه الله کریم زمونږ عزیز مولوی محمد ایاز سلمه الله لره دَ شخصیت او کردار په کومه سانچه کښے جوړ کړے دے هغه به د معاشرے دَ پاره دَ بهترینو اقدارو او رویو په مخکښے بوتللو ذریعه جوړ شی ۔ انشاء اللّٰه

دے نوجوان عالم دَ خپلے ځوانئی چمن په ایمان او عمل او خدمت د قرآن دَ درسونو په ګلونو سره خوشبو یه کړے دے او دَ ده دا تالیف به هم انشاء الله دَ هم دغه خوشبویئی د خوریدلو ذریعه جوړه شی۔

ما د دے رسالے بعضے ځایونه کتلی دی په ساده ژبه کښے مضبوطو دلائلو سره ئے انشاء الله ډیره عمده او مفید مطالب بیان کړی دی ۔ الله کریم دِ دا دَ امت د پاره نافع او د مصنف دَ پاره ذریعه آخرت اوګرځوی ۔ آمین

لوستونکو ته ځما ګذارش دے چه دا رساله دِ زیات نه زیاتو خلقو ته اورسوی او د عقیدے دَ اصلاح او دَ توحید د مسئلے بیانولو په جهاد کښے دے شریک شی ۔ جزاکم اللّٰه خیراً

( شیخ القرآن مولانا ) محمد طیب عفی عنه

# ﴿تقریظ﴾

مولانا مفتی محمد منیر شاکر (کرم ایجنسی)

**اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ لَّا نَبِیَّ بَعْدَهٗ اَمَّا بَعْدُ!**

یقینا دَ دین خدمت د پاره الله جل جلاله په هره زمانه کښې داسې ځوانان علماء، مصنفین او مؤلفین منتخب کوی ځوک چه خپل قیمتی وقت او علم سره د الله د دین داسې خدمت اوکړی کوم چه تر پاتے دنیا پورے یادگار وی۔

ځما وروړ مولانا محمد ایاز صاحب په هم دغه خوش قسمته ځوانانو سپاهیانو کښې دے چه هغه د طالب علمئی د زمانے راسے د توحید په خدمت کښې مصروف دی۔ زیر نظر رساله (عقیدۂ توحید او ردّ شرک) دَ هم دغه زنځیر یوه کړۍ ده ۔ موصوف په دے مختصره رساله کښې انتهائی جامع او ټهوس مواد راجمع کړی دی ۔بنده موصوف ته په دے خدمت باندے شابسے وړاندے کوی ۔ الله دِ دَ ده کوشش قبول کړی او دَ ده په علم کښې دِ برکت واچوی۔ آمین

*(مولانا مفتی) محمد منیر شاکر صده کرم ایجنسی*

☆☆☆

# تقدیم

از سید کفایت بخاری صاحب

دَ نبی کریم ﷺ د ختمِ نبوت اعلان ربانی عالمانو لره دَ امت مرحومه نګرانئی او د اصلاح و ارشاد مسلسل جدوجهد د پاره ذمه واری ګرځوی او د الله فضل و احسان دے چه په هیڅ دور کښے هم د حق عالمانو د دے فریضے ادا کولو نه ډډه نه ده کړے او همیشه ئے خپل ځان د دے اعزاز اهل ثابت کړے دے۔ هغوی دَ امت د عقائدو اصلاح د پاره هرے ممکن طریقے سره هر قسمه کوشش کړے دے او د دے الهی فریضے ادا کولو عقل حیرانونکی مثالونه ئے قائم کړی دی۔

د دغه ربانی عالمانو د اصلاح او ارشاد په کوششونو کښے د عقیدے د اصلاح کوشش اوچت حیثیت لری ولے چه دَ اعمالو صالح او مقبول کیدلو دارومدار د عقیدے په درست والی باندے دے ، که چرے عقیده درسته وی نو د الله په نزد اعمال هم قابلِ قبول دی لیکن که چرے عقیده درسته نه وی نو لوئے نه لوئے عمل هم د بَنړے هومره حیثیت نه لری۔

د اسلامی عقائدو سر عنوان توحید دے او د دے مقابل شرک دے۔ د ټولو اسمانی کتابونو د نزول او د ټولو اسمانی شریعتونو او ملتونو غرض او غایت او غټ مقصد همدا اثبات توحید او د شرک رد دے ۔ دا ډیر لوئے شیطانی جال دے چه دَ بیان توحید نوم شدت او د رد شرک نوم فرقه واریت ایښودلو سره د قوم د مصلحینو خبره اوریدل هم

بـنـدولـے شی او نوبت دومره پورے راؤرسیدو چه د توحید مبلغینو ته د فتـویٰ بـازی طـوفـان سـره مـخـامـختیا اوشوه او د دشنام طرازی ، بهتان طـرازی ، سنگباریٔ ، آتش زنئی او د قتل و غارت سمندرونه پورے وتل راغـلل ، لیکن دغه مصلحینو د الله د طرفنه عائد شوے فریضے تر سره کـولـو کښے دَ هیـڅ قسـمـه سستـئـی او مدا هنت نه کار وانه خستو ـ فجزاهم اللّٰه عنا وعن سائر المسلمین خیر الجزاء

*ہوا ہے گو تند و تیز لیکن چراغ اپنا جلا رہا ہے*

*وہ مرد درویش جس کو حق نے دیئے ہیں انداز خسروانہ*

دا زیـرِ نـظـر رسـاله هم د همدغه ښکلو کوششونو یو تسلسل دے په کومه کښے چه په ډیر ښکلی او ساده انداز کښے د توحید مطلب بیـانـولـو سـره د تـوحید اهمیت واضح کړے شوے دے او په دے باندے دَ الهـی دربـار نه ملاویدونکی انعامات شمارلے شوی دی ـ د دے نه پس د شرک وضاحت ، د دۀ د قسمونو تفصیل او د شرک د قباحت تذکره ده ـ څـه چـه لیـکـلـی شوی دی د قرآن او حدیث نه لیکلی شوی دی او ځائے پـه ځـائے دَ اکـابـرِ امت او فـقـهـائے احنافو فیصلے پیش کولو سره ئے د استـدلال مـضبـوط والے څرګند کړے دے ـ شرک هغه زهر دی چه هره لـوئے نه لوئے قربانی او نیک نه نیک عمل هم ضائع کوی ـ د غضبِ الهـی دَ نـازلیـدلـو ذریـعــه جـوړیـږی او دَ آخـرت مغفرت او رحمت نـه مـحـرومــه کـوی ـ شـرک د دنیـا او آخـرت د رسوائـی او دَ رب پـه نـزد تهـکـراویدلو پروا نه ده ، که چرے دا خبره د چا په زړه کښے کوزه شوه نو

انشاء اللـه د دے د لیـکـلو مقصد به ضرور حاصل شی۔ لوستونکو ته درخـواسـت دے چـه پـه خپـلـه حـلـقه تعارف کښے د دے رسالے زیات نه زیـات اشاعت اوکړی او د توحید دَ خدمت په اعزاز سره دِ عزتمند شی ۔ **تقبلا لله منا ومن سائر المسلمین.**

سید کفایت بخاری

تجاوزه عن ذنبه الباری

۱۱ شعبان ۱۴۲۱ھ

**نوټ:** دَ رسالے لیکلو وخت کښے د عوامو د عقیدے اصلاح زیرِ نظر ساتلے شوے ده ، دے دَ پاره علمی او مشکل مباحث پریښودلے شوی دی او ساده او اسان انداز اختیـارولـو سره د روانـګـئـی خیـال ساتلے شوے دے۔ **(مصنف)**

☆☆☆

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ وَحْدَهٗ لاَ شَرِیْكَ لَهٗ فِی الذَّاتِ وَالْاَفْعَالِ وَالْاَسْمَآءِ وَالصِّفَاتِ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلاَمُ عَلٰی رَسُوْلِهِ الَّذِیْ هُوَ اَفْضَلُ الْمَوْجُوْدَاتِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الَّذِیْنَ هُمْ کَالنُّجُوْمِ فِی الظُّلُمٰتِ ، اَمَّا بَعْدُ!

فَاَعُوْذُ بِااللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

وَاِلٰهُکُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ج لاَ اِلٰهَ اِلاَّ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمِ.[بقره:۱٦۳]

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ مَاتَ وَهُوَ یَعْلَمُ اَنَّهٗ لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ. [مشکوٰة]

**ترجمه آیت**: ”او ستاسو د ټولو اله هم یو اله دے هیڅوک اله نیشته د هغه عام او خاص رحم کؤنکی نه سوا“

**ترجمه حدیث**: ”د رسول الله ﷺ ارشاد دے چه څوک مړ شی په داسے حالت کښے چه هغه دا خبره منی چه د الله نه سوا هیڅوک اله نیشته نو هغه به جنت ته داخلیږی“

## ﴿دَ توحید دَ عقیدے اهمیت﴾

په دنیا کښے الله تعالیٰ په انسان باندے ډیر زیات انعامات او احسانات کړی دی لیکن په دغه ټولو انعاماتو کښے د ټولو نه لوئے نعمت او د الله لوئے فضل د توحید عقیده ده، چه یو انسان ته الله تعالیٰ د توحید پوهه ورنصیب کړی او د شرک نه په بیزاریدلو سره یو مؤحد مسلمان جوړ شی، د دے نه په دنیا کښے بل لوئے فضل نیشته ۔ دا حقیقت قرآن پاک دَ حضرت سیدنا یوسف علیه السلام دَ ژبے نه په دا شان بیان کړے دے چه کله هغوی په جیل کښے خپل قیدیان ملګری

د توحید په مسئله باندے پوهه کول نو وے فرمائیل :

" اے زما د جیل ملگرو! ما د هغه قوم دین پریښے دے څوک چه په الله او آخرت باندے ایمان نه لری او د خپلو پلارانو، نیکونو حضرت ابراهیم ، اسحاق او یعقوب علیهم السلام د دینِ توحید پیروی مِ کړے ده ۔ بیا فرمائی:

"مَا كَانَ لَنَا اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَيْئٍ." [یوسف:۳۸]

" مونږ سره نه ښائی ( مونږ لره په هیڅ شان هم دا لائقه نه ده ) چه مونږه دے الله تعالیٰ سره بل څوک شریک اوگرځوؤ"

او دا شرک نه کول او توحید منل چه دی:

"ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلٰكِنْ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ. [یوسف:۳۸]

" دا د الله تعالیٰ فضل دے په مونږ باندے او په ټولو خلقو باندے لیکن بیا هم اکثر خلق د دے فضل (توحید) ناشکری (شرک) کوی۔"

په تنویر المقباس من تفسیر ابن عباسؓ کښے د آیت :

"فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ" [محمد:۱۹] په تشریح کولو کښے فرمائیلی شوی دی :"وَيُقَالُ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَيْسَ شَيْئٌ فَضْلُهٗ كَفَضْلِ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ"

" په دے خبره پوهه شه چه دَ توحید ( لا اله الا الله) فضیلت غوندے د بل هیڅ څیز فضیلت نیشته"

بهر حال توحید د الله تعالیٰ په خپلو بندگانو باندے لوئے فضل او احسان دے ، د دے برابر د الله تعالیٰ په انعاماتو کښے بل یو غټ فضل او احسان هډو شته دے نه ۔ د توحید دا فضیلت به ولے نه

وی حال دا چه همدا توحید خو د قرآن دعویٰ او خلاصه ده ۔ قرآن پاک د دے مسئله توحید وضاحت کوی او همدے د پاره نازل کړے شوے دے او همدا د قرآن مقصد دے ۔ ملا علی قاری حنفیؒ د دے حقیقت په بیانولو کښے داسے لیکی چه:

"اِنَّ الْقُرْآنَ مَا اُنْزِلَ اِلَّا لِتَقْرِيْرِ التَّوْحِيْدِ" [مرقات: ۱۲۸/۲]

" بیشکه قرآن د توحیدَ تقریر او بیان د پاره نازل کړے شوے دے۔"

غرض دا چه د توحید علم او فهم عطا کول د الله تعالیٰ په خپل مخلوق باندے ډیر لوئے فضل او انعام دے او همدے د پاره الله تعالیٰ پیرے او انسان پیدا کړے دے ۔ چه هغوی په دنیا کښے د الله تعالیٰ معرفت یعنی توحید اوپیژنی ،وئے منی او په آخرت کښے کامیابی حاصله کړے شی ، او همدا د ده د پیدائش مقصد دے ۔قرآن پاک کښے الله تعالیٰ فرمائی:

" وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ"[الذاریات: ۵۶]

" او مونږه پیریان او انسانان خپل عبادت (توحید) د پاره پیدا کړی دی " همدے طرفته اشاره کولو سره دَ شیخ عبدالقادر جیلانیؒ ارشاد دے:" ستا پیدائش خاص دَ توحید د پاره دے" [فتح الربانی]

هر کله چه توحید د انسان د پیدائش مقصد دے نو په همدے بناء باندے قرآن انسان ته په ټولو احکامو کښے د ټولو نه مخکښے د توحید د عقیدے حکم او دعوت ورکوی۔ د الله تعالیٰ ارشاد دے:

"يَآ اَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ".[بقره: ۲۱]

د نبی کریم ﷺ عم زاد (سیدنا عبد الله بن عباسؓ) د دے آیت

په تفسیر کښې فرمائی: " اُعْبُدُوْا رَبَّکُمْ اَیْ وَحِّدُوْا رَبَّکُمْ"

" اے خلقو! د خپل رب توحید اومنئی چا چه تاسو او تاسو نه مخکښې خلق پیدا کړی دی دَ دے دَ پاره چه تاسو پرهیزګاران جوړ شی۔

بهر صورت د رب توحید منل د ټولو نه مخکښې دی۔ په همدے وجه امام قرطبیؒ لیکی چه:

"اِنَّ اَوَّلَ مَا یَجِبُ اِظْهَارُهٗ وَلاَ یَجُوْزُ کِتْمَانُهٗ اَمْرُ التَّوْحِیْدِ" [پ: ۱۲۸/۲]

یعنی د ټولو نه مخکښې چه دَکومے مسئلے اظهار او اعلان واجب دے او دَ هغے پټول جائز نه دی هغه د توحید مسئله ده۔

دَ دے وجه نه به نبی پاک ﷺ خلقو ته د توحید مسئله ښودله او همدا حکم به ئے ورکولو بیا به نور حکمونه وو۔ په بخاری کښې روایت دے چه هر کله رسول الله ﷺ سیدنا معاذؓ لره یمن طرفته لیګل اوغوستل نو حضور ﷺ حضرت معاذؓ ته حکم ورکړو:

"فَلْیَکُنْ اَوَّلُ مَا تَدْعُوْهُمْ اِلٰی اَنْ یُوَحِّدُوْا اللّٰهَ تَعَالٰی" [مسلم]

یعنی دَ ټولو نه مخکښې هغوی د الله وحدانیت (توحید) طرفته راؤبله، دعوت ورکړه۔

بس دَ توحید دے اهمیت نه معلومیږی چه په ټولو احکامو کښې د ټولو نه رومبئی مرتبه او رومبئے نمبر د توحید دے او باقی احکامات د دے نه پس دی۔

په دے وجه د کوم سړی عقیده چه خالص د توحید وی او د هغه په عقیده کښې شرک ګډ نه وی نو هغه سړے حقیقی ایمان والا او

هدایت یافته دے۔ (د آخرت عذاب دَ دے خبرے گواهی الله تعالیٰ په قرآن پاک کښے دا رنګ ورکوی:

"اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ یَلْبِسُوْٓا اِیْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْاَمْنُ وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ" [انعام: ۸۳]

پس کومو خلقو چه ایمان راؤړو او دوی ګډ نه کړو خپل ایمان سره شرک ،پس دوی دَ پاره امن دے (دَ آخرت عذاب نه) او هم دوی هدایت موندونکی دی ( په دنیا کښے)

حاصل دا چه امن او هدایت والا صرف هم هغه خلق کیدے شی چا چه ایمان راؤړو په دا شان چه په هغے کښے د شرک ملاوټ بالکل نه وی۔ اوکه چرے په خدائے باندے د ایمان لرلو باوجود ئے شرک پرے ننښودو نو دا نۀ حقیقی او شرعی ایمان دے او نه د دے په ذریعے سره امن او هدایت نصیب کیدے شی۔ الله تعالیٰ فرمائی:

"وَمَا یُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ مُّشْرِكُوْنَ" [یوسف: ۱۰۶]

او ایمان نه راؤړی ډیر خلق په الله باندے مګر ورسره شرک هم کوی ۔ یعنی اکثر خلق ایمان سره سره هم مشرکان وی۔ څرنګ چه د نن صبا تش په نوم مسلمانان چه په ژبه خو توړل وائی چه خالق ، رازق او مالک الله تعالیٰ دے خو دَ دے باوجود څوک الله د پاره څوے ،لونړه او نائبان او حصه دار تجویز کوی ، چا احبارو او رُهبانو لره د خدائیی اختیارات ورکړی دی او ډیر خلق دَ تعزیه پرستئی ، قبر پرستئی او پیر پرستئی خس و خاشاک سره د توحید صفا چینه خړوی۔ غرض دا چه د ایمان زبانی دعویٰ کوؤنکو کښے ډیر کم داسے دی چه په عقیده کښے د

شرک ارتکاب نه کوی ۔

؎ زبان سے گر کیا توحید کا دعویٰ تو کیا حاصل

بنایا ہے بُتِ ہزار کو اپنا خدا تو نے

مختصر دا چه دَ توحید عقیده په اسلام کښې بنیادی حیثیت لری چه دَ دې نه بغیر هیڅ یو عمل او عبادت هم قبول نه دې ۔ که چرې دینِ اسلام له عمارت سره تشبیه ورکړې شی نو د توحید عقیده د دې عمارت بنیاد او باقی احکام به د آبادئی په مثال وی ۔ هر کله چه د یو عمارت بنیاد دَ سره وی نه، یا بنیاد خو وی لیکن کمزورې وی نو په هغې باندې اول خو آبادی هډو کیدې نشی او که چرې آبادی ورباندې اوشی هم نو پائداره به نه وی او زیات وخت پورې به باقی پاتې نشی ۔ همدغه رنګ د چا چه عقیده د توحید نه وی یا د توحید عقیده ئې مضبوطه نه وی په هغې کښې ورسره د شرک ګډون هم وی نو د هغه اعمال او عبادت بې فائدې او فضول دی ۔ دَ دا قسمه خلقو په باره کښې الله تعالیٰ فرمائی:

" وَقَدِمْنَاۤ اِلٰی مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا" [الفرقان: ۲۳]

یعنی کوم سړی کښې چه ایمان ( د توحید عقیده) نه وی او اعمال کوی او په هغې باندې بهروسه کوی چه دا اعمال به زما په کار راشی نو الله پاک فرمائی چه نا، مونږ به دغه عملونه داسې بې حقیقته والوزوؤ لکه څرنګ چه د خاورو ذرّات په هوا کښې یو خوا بل خوا الوزی، ولې چه دغه اعمال د ایمان روح (توحید) نه خالی دی۔

دَدے د پاره په قرآن پاک کښې ځائے په ځائے د اعمالو دَحکم او بیان نه مخکښې د ایمان یعنی توحید حکم بیان کیږی څنګه چه یو ځائے کښې ارشاد دے:

" وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُوْلٰٓئِكَ اَصْحَابُ الْجَنَّةِ" [البقره: ۸۲]

"او کومو خلقو چه ایمان راوړے دے (توحید ئے منلے دے) او نیک عملونه کوی همدغه خلق جنتیان دی"

همدغه شان د اکابرو په خطبو کښې عام طور سره دا الفاظ ملاویږی:

" يَآ اَيُّهَا النَّاسُ وَحِّدُوْا اللّٰهَ فَاِنَّ التَّوْحِيْدَ رَأْسُ الطَّاعَاتِ"

" اے خلقو! الله یو اومنئی ، بیشکه توحید ( الله پاک یو منل) د ټولو طاعتونو، عبادتونو بنیاد دے"

هر کله د توحیدَ عقیدے دومره زیات اهمیت دے چه دا دَ تمامو احکاماتو او عباداتو سر او بنیاد دے نو په دے باندے هم پوهیدل ضروری دی چه دَ دومره زیات اهمیت والا توحید مطلب څه دے؟

## ﴿دَ توحید معنیٰ او مطلب﴾

دَ توحید معنیٰ او مطلب باندے پوهیدلو د پاره دَ ابن حجرؒ دا عبارت تقریبا کافی دے ۔ هغوی فرمائی :

" اَلتَّوْحِيْدُ مَصْدَرُوَحَّدَ يُوَحِّدُ وَمَعْنٰى وَحَدْتُّ اللّٰهَ اِعْتَقَدْتُهٗ مُنْفَرِدًا بِذَاتِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَلاَ نَظِيْرَ لَهٗ وَلَا شَبِيْهَ .[فتح الباری کتاب التوحید]

حاصل دا دے چه انسان دِ دا حقیقت د زړه د ژوروالی نه تسلیم کړی او دا عقیده دِ اولری چه الله تعالیٰ په خپل ذات ، صفاتو او افعالو

(کارونو) کښې یکتا او یګانه دے او په ذات او صفاتو او افعالو کښې د هغه هیڅوک شریک نیشته ، د هغه نظیر ،شبیه او مثل نیشته۔"

شیخ عبد القادر جیلانیؒ په خپل کتاب کښې فرمائي:

" اَلتَّوْحِیْدُ لَیْسَ فِیْهِ رُؤْیَةُ الضُّرِّ وَالنَّفْعِ مِنْ اَحَدٍ.[الفتح الربانی:۱۹۸]

یعنی توحید دا دے چه انسان د هیڅ یو مخلوق نه د نفعے او نقصان تصور اونه کړی ( چا نه دے دَ نفعے او نقصان عقیده نه لری)

په دے عبارت کښې (اَحَدَ) نکره په سیاق دَ نفی کښې راغلے ده کومه چه د عمومیت فائده ورکوی۔ په دے لحاظ سره اَحَدَ لفظ عام دے یعنی هر مخلوق ،غیر الله خواه که هغه نوری وی ،ناری وی یا خاکی وی ،نبی،ولی وی که پیر فقیر ،حجر شجر وی که قبر وی، هیچا سره دے دَ نفعے او نقصان مالک کیدلو عقیده اونۀ ساتلے شی او نه دِ هغوی لره د الله په ذات ، صفاتو او افعالو کښې شریک جوړوی ۔ بس همدا توحید دے۔

## ﴿د اللّٰه تعالٰی ذات، صفات او افعال﴾

اللہ تعالیٰ په خپل ذات ، صفاتو او افعالو کښې واحد او یکتا دے او هغه سره په مخلوق کښې هیڅوک هم شریک نه دے ۔

☆ الله خالق دے، د پیدا کولو دا صفت یوازے د الله دے ۔

"قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ" [رعد:۱۶]

تۀ اوایه چه یوازځی الله د هر څیز خالق ، پیدا کوؤنکے دے۔

☆ اولاد ورکولو والا هم یوائحی الله دے:

" یَخْلُقُ مَا یَشَآءُ یَهَبُ لِمَنْ یَّشَآءُ اِنَاثًا وَّیَهَبُ لِمَنْ یَّشَآءُ الذُّكُوْرَ

اَوۡیُزَوِّجُھُمۡ ذُکۡرَانًا وَّاِنَاثًا وَیَجۡعَلُ مَنۡ یَّشَآءُ عَقِیۡمًا" [شوریٰ: ۴۹]

اللـه چـه څـه غـواړی پیـدا کـوی ئـے ، چا له چه اغواړی لونړه ورکـوی او چالـه چـه غـواړی ځامن ورکوی یا ورله ځامن او لونړه دواړه ورکوی او څوک چه اوغواړی شنډ ئے کړی۔

☆ ژوندے کوؤنکے او مرګ راوستونکے الله تعالیٰ دے:

"هُوَ یُحۡیٖ وَیُمِیۡتُ وَاِلَیۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ" [یونس: ۵٦]

همدغه الله ژوند ورکوی او مرګ راولی او دَهغه طرفته به تاسو ورګرځولے شی ۔

☆ رازق الله دے۔دا صفت هم یوائے د الله دے

"اَللّٰهُ یَبۡسُطُ الرِّزۡقَ لِمَنۡ یَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖ وَیَقۡدِرُ لَهٗ" [العنکبوت: ٦۲]

اللـه فـراخـوی رزق چالـه چـه اغـواړی او تنګوی چا د پاره چه اوغواړی په خپلو بندګانو کښے۔

☆ د مـرض او بیـمارئ نـه شـفا ورکـوؤنـکے هم اللـه تعالیٰ دے ۔

حضرت ابراهیم علیه السلام د الله صفات بیانولو سره فرمائی:

"وَاِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ یَشۡفِیۡنَ" [شعراء: ۸۰]

او هر کله چه زۀ بیمار شم نو یوائے الله ما له شفا راکوی۔

☆ د تمام خیر او شر او مصیبت لرے کوؤنکے یوائے الله دے

"قُلِ اللّٰهُ یُنَجِّیۡکُمۡ مِنۡهَا وَمِنۡ کُلِّ کَرۡبٍ ثُمَّ اَنۡتُمۡ تُشۡرِکُوۡنَ" [الانعام: ٦٤]

ورتـه اوایـه چـه اللـه تـاسو لـه نجات درکوی د دے ( موجوده تـکـلیف) نـه او د (آئـنـده) هـرے سـخـتـئی او تکلیف نه هم ، خو بیا هم تاسو شرک کوئ۔

☆ همدغه شان خیر او ښیګڼه هم یوائې د الله په لاس کښې ده۔

"وَاِنْ يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلاَ رَآدَّ لِفَضْلِهٖ" [یونس:۱۰۷]

او که چرې الله تا ته خیر رسول اوغواړی نو هیڅوک د هغه د فضل واپس کوؤنکے نیشته۔

بهر حال په دے تمامو صفاتو کښے د الله تعالیٰ سره هیڅوک مخلوق ، نبی ، ولی ، پیر ، فقیر شریک نیشته ۔

د باری تعالیٰ ارشاد دے :

" اَللّٰهُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ط هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ مَنْ يَّفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ مِنْ شَيْىءٍ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ" [الروم: ٤٠]

الله هغه ذات دے چا چه تاسو پیدا کړی ئیی بیا ئے روزی درکړے ده بیا به درله مرګ راولی بیا به مو ژوندی کوی ۔ آیا ستاسو په شریکانو کښے څوک داسے شته دے چه د الله په دے کارونو کښے کوم یو کار اوکړی؟ یا د الله په دے صفاتو کښے د الله سره شریک وی؟ نا،نا! پاک دے الله د شریکانو نه او ډیر اوچت دے د هغو نه چه دا خلق ورله شریکان جوړوی۔

☆ الله نه سوا هیڅوک پیدا کوؤنکے ، اولاد ورکوؤنکے نیشته۔

ارشاد ربانی دے:

" اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَنْ يَخْلُقُوْآ ذُبَابًا وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا لَهٗ" [الحج:۷۳]

څوک چه تاسو رابلئی هغوی خو هرګز یو (معمولی غوندے) مچ هم نشی پیدا کولے اګر چه دوی ټول ورته راجمع شی هم۔

هیــڅ یو نوری ، ناری ، خاکی ، پیرے ، فرشته ، نبی ، ولی ، قبر والا اولاد نشــی ورکـولے ۔ دا عقیده د شرک ده چه خلق وائی فلانے نبی ، ولی ، پیر ، فقیر وغیره اولاد ځوے لور ورکوی ۔ حالانکه الله تعالیٰ فرمائی:

”وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ط مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ط سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَتَعَالٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ“ [القصص:۲۸]

او ستا رب پیدا کوی څه چه اوغواړی او غوره کوی (څوک چه اوغواړی) نیشته دے د مخلوق په اختیار کښے پیدا کول ، الله پاک دے او ډیر اوچت دے د هغو نه کوم چه دا خلق الله سره په دے کښے شریکان جوړوی۔

د یو مشهور پیغمبر حضرت زکریا علیه السلام اولاد نه وو نو هغه صرف د الله نه اولاد غواړی۔ د قرآن کریم ارشاد دے چه حضرت زکریا علیه السلام په دا شان خپل رب نه غواړی:

” رَبِّ هَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ج اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَآءُ“ [ال عمران:۳۸]

اے زما ربه! ما ته د خپل طرفنه یو پاکیزه ځوے راکړے ، هم ته دعا اوریدونکے ئے ۔ الله تعالیٰ فرمائی:

”فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى“ [الانبیاء: ۹۰]

بیا مونږه د هغه دعا قبوله کړه او هغه له مو یحیٰی علیه السلام ځوے ورکړو۔

ګورئ! پیغمبر دے لیکن خپل ځان له د اولاد ورکولو اختیار نه لری بلکه د الله نه غواړی نو بیا نورو له د ورکولو خو هډو سوال نه پیدا کیږی ۔

☆ همدغه شان رزق ورکوؤنکے هم د الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک نیشته۔

" اِنَّ الَّـذِیْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لاَ یَمْلِکُوْنَ لَکُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ" [العنکبوت:۱۷]

د کومو خلقو چه تاسو عبادت کوئ۔ رابلئی ئے د الله نه سوا نو هغوی تاسو له دَ رزق درکولو اختیار نه لری ، بس رزق د الله تعالیٰ نه غواړئ الله سره ئے لټوئ۔

☆ تکلیف،مصیبت او بیماریٔ لرے کوؤنکے هم د الله نه سوا هیڅوک نیشته۔ نبی،ولی ،پیر ،فقیر هیڅوک هم دا اختیار نه لری۔ د الله تعالیٰ فرمان دے:

" وَاِنْ یَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلاَ کَاشِفَ لَهٗ اِلَّا هُوَ" [الانعام:۱۷]

او که چرے الله تعالیٰ تا ته څه مصیبت ،تکلیف،بیماری یا سختی دراورسوی نو هیڅوک د هغے لرے کوؤنکے نیشته۔ ( چه دغه تکلیف بیماری لرے کړی)

یو پیغمبر حضرت ایوب علیه السلام پخپله بیمار شو نو د خپلے بیماریٔ لرے کولو د پاره ، شفا حاصلولو د پاره الله تعالیٰ رابلی:

"وَاَیُّوْبَ اِذَا نَادٰی رَبَّهٗ اَنِّیْ مَسَّنِیَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرَّاحِمِیْنَ" [الانبیاء:۸۳]

او یاد کړه ایوب علیه السلام لره کله چه هغه خپل رب ته آواز اوکړو چه اے الله! ماته تکلیف او بیماری رسیدلے ده او ته د ټولو رحم کونکو نه زیات رحم کونکے ئے۔ الله تعالیٰ فرمائی:

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَکَشَفْنَا مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ" [الانبیاء: ۸٤]

بیا مونږ د هغه فریاد واؤریدو ، د هغه دعا مو قبوله کړه نو د

هغه نه مو د هغه تکلیف د بیماری لرے کړه۔

هر کله چه یو نبی خپل تکلیف او بیماری لرے کولو کښے د الله تعالیٰ محتاج دے نو ولی به په طریق اولیٰ د الله محتاج وی او ثوک چه پخپله محتاج وی ، هغوی به د نورو نه ثه تکلیف،مصیبت او بیماری لرے کړی۔

جوخودمحتاج ہوئے دوسروں کا بھلااس سے مدد کا مانگنا کیا!

☆ د غرقیدو او ډوبیدلو نه بچ کوؤنکے هم د الله تعالیٰ نه سوا هیثوک نیشته۔

مشرکان او جاهلان خلق وائی: ''بھاؤالحق بیڑا دھک''

( بهاؤالحقه! بیړئ له مِ دیکه ورکړه) او همدغه شان مشهوره کړے شوے ده چه شیخ عبد القادر جیلانیؒ د دولسو کالو ډوبه شوے بیړئ راپورے ویستے وه۔ حالانکه الله تعالیٰ فرمائی:

'' وَاِنۡ يَشَأۡ نُغۡرِقۡهُمۡ فَلاَ صَرِيۡخَ لَهُمۡ وَلاَ هُمۡ يُنۡقَذُوۡنَ'' [یس:۴۳]

او که چرے مونږه دوی غرق کړو، په دریاب کښے ئے ډوب کړو نو هیثوک ( نبی ، ولی ، پیر، فقیر) نیشته چه دوی بچ کړی ، د دوی بیړی پورے باسی ۔۔۔ د الله تعالیٰ یو مقرب پیغمبر حضرت یونس علیه السلام په دریاب کښے ډوب شو، د مهی په خیټه کښے دے او دَ خلاصی هیڅ لاره ئے نیشته ۔ نه پخپله ثان بچ کولے شی ، په دغه وخت کښے د مهی په خیټه کښے په دریاب کښے دننه یو ازے الله رابلی:

" فَنَادٰی فِی الظُّلُمٰتِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ‌صلے اِنِّیْ کُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ " [الانبیاء:۸۷]

نوپس هغه په ګڼرو تیارو کښے آواز اوکړو چه اے الله! تا نه سوا ما د پاره د بچ کولو هیڅ صورت نیشته ، هم ته د دریاب نه بچ کوؤنکے ئے۔

الله تعالیٰ فرمائی:

"فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ وَنَجَّیْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ط وَکَذٰلِكَ نُنْجِی الْمُؤْمِنِیْنَ"[الانبیاء:۸۸]

مونږ د هغه فریاد واؤریدو او مونږ هغه له د دغه غم ( دریاب) نه نجات ورکړو ۔ همدغه شان مونږه مؤمنانو له نجات ورکوؤ۔

نو څوک بل بچ کوؤنکے ، بیړئ پوړے ویستونکے او ډوبه شوے کشتئی په غاړه لګونکے نیشته۔

مختصر دا چه ټولو پیغمبرانو په خپلو تکلیفونو او مصیبتونو کښے الله تعالیٰ رابللے دے او هم دَ هغه نه ئے مددغوښتے دے ۔ الله تعالیٰ پخپله په خپل کتاب قرآن مجید کښے د ټولو پیغمبرانو ذکر کولو سره فرمائی: "اِنَّهُمْ کَانُوْا یُسٰرِعُوْنَ فِی الْخَیْرَاتِ وَیَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ط وَکَانُوْا لَنَا خٰشِعِیْنَ" [الانبیاء: ۹۰]

دے ټولو پیغمبرانو په نیکو کارونو کښے وړاندے والے کولو او که خوشحالی به وه یا تکلیف به وو په هر حال کښے ئے صرف مونږه ( الله) رابللو او زمونږ په وړاندے عاجزی کوؤنکی وو۔

هر کله چه پیغمبرانو سره د خپلو تکلیفونو لرے کولو اختیار

هم نه وونو بیا د نورو دَ لرے کولو خو هڅو سوال نشی پیدا کیدے۔

د انبیاء کرامو او اولیاؤ کرامو خپله درجه او شان دے ، پیغمبر لره د پیغمبرئ او ولی لره دَ ولایت حده پورے منل او عزت ئے پکار دے۔ شریعت دا اجازت هیچا له نه دے ورکړے چه هغه څوک نبی یا ولی اوچتوی د خدائی درجے ته ئے اورسوی ، بلکه حدیث کښے راځی:

"اَنْزِلِ النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ"

خلقو له خپله خپله درجه ورکړه یعنی هیڅوک د خپلے درجے او مرتبے نه زیاتوه یا کمه وه مه ، بلکه په خپلے مرتبے باندے ئے لره۔

؎ گر فرق مراتب نہ کنی زندیقی

لیکن دا قوم د توحید مسئلے اوریدلو ته تیار نه دے ۔ په قول دَ یو شاعر ؎ سمجھ میں نکتہ توحید آ تو سکتا ہے

ترے دماغ میں بت خانہ ہو تو کیا کہئے۔

دا خو دَ یهودو او نصاریٰ ؤ طریقه ده چه هغوی خپل پیغمبران او نیکان خلق د خپلے مرتبے نه دومره پاس اوچت کړل او د هغوی په عزت او شان کښے ئے دومره مبالغه اوکړه چه د خدائیی درجے ته ئے اورسول او هغوی ئے حاجت روا اوګڼړل او د هغوی رابلل ئے شروع کړل۔ رسول الله ﷺ د دوی د دے قبیح کار غندنه کوی او فرمائی:

"لَعَنَ اللّٰهُ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارىٰ اِتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ"

الله دِ په یهودو او نصارو باندے لعنت اوکړی چه هغوی د خپلو پیغمبرانو قبرونه سجده ګاه جوړ کړی وو۔او

"اِذَا مَاتَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ بَنَوْا عَلَيْهِ مَسْجِدًا"

هر کله به چه په هغوی کښې څوک نیک سړے مړ شو نو په هغه باندې به ئے ګنبد جوړ کړو۔

لیکن افسوس چه نن د یهودو او نصارو دا شرکیه کارونه په مسلمانانو کښې مخ په ترقئی دی ۔ په دے وجه نبی کریم ﷺ د دے ویرے نه چه زما امت دا طریقه اختیار نه کړی ۔ د خپل امت خبرداری د پاره ئے دا دعا اوفرمائیله:

"اَللّٰهُمَّ لا تَجْعَلْ قَبْرِیْ وَثَنًا يُعْبَدُ اِشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلٰى قَوْمٍ اتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِيَاءِ هِمْ مَسَاجِدَ" [مؤطا مالك]

یا الله زما قبر عبادت ګاه مه جوړوے ۔ د الله سخت غضب شوے دے په هغه قوم باندے چا چه د خپلو پیغمبرانو قبرونه سجده ګاه جوړ کړی دی۔

یو ځل د بعضو اصحابو رض نه د نبی ﷺ د عظمت او عقیدے په اظهار کښې څه بے اعتدالی او لغزش اوشو نو حضور علیه السلام په سختئی سره تنبیه اوفرمائیله او وے فرمائیل چه:

"لا يَسْتَهْوِيَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ اَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ ،عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُهٗ مَا اُحِبُّ اَنْ تَرْفَعُوْنِیْ فَوْقَ مَنْزِلَتِیَ الَّتِیْ اَنْزَلَنِیَ اللّٰهُ" [کنزالعمال]

خلقو! تاسو دے شیطان ګمراه نه کړی ۔ زۀ د عبد الله ځوے محمد(ﷺ)یم د الله بنده یم او د هغه رسول یم، په ما باندے دا خبره ښه نه لګی چه تاسو ما د هغه مرتبے نه پورته اوچت کړئ کومه چه الله ما

لره راکړے ده۔

همدغه د توحید مفهوم دے چه هر څوک دِ په خپله خپله مرتبه او درجه باندے اولرلے شي او هیڅوک دے الله تعالیٰ سره په ذات او صفاتو او اسماؤ ،افعالو کښے شریک نه کړے شي او یو الله دے واحد لا شریک اوګنړلے شي۔

## ﴿توحید او انعامات رباني﴾

د توحید عقیده منلو او اختیارولو ډیر زیات دنیاوی او اخروی انعامات او فوائد دی کوم چه پخپله قرآن پاک کښے ذکر شوی دی ۔ سورت هود:۲،۳ کښے الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ د ژبے مبارکے نه د توحید مسئله بیانوی چه:

''اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ۭ اِنَّنِیْ لَکُمْ مِنْهُ نَذِیْرٌ وَّبَشِیْرٌ'' [رعد: ۲]

د الله تعالیٰ نه سوا د بل هیچا عبادت (بندګی) مه کوئ۔ او زه محمد ﷺ د الله د طرفنه تاسو د پاره یرؤنکے او خوشخبری ورکونکے یم۔ نو د توحید دا مسئله (د یو الله بندګی او عبادت) اومنئی او :

''وَاَنِ اسْتَغْفِرُوْٓا رَبَّکُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَیْهِ'' [هود: ۳]

د خپل کړی جرم (شرک) معافی اوغواړی او د هغه په وړاندے توبه اوکړی نو الله تعالیٰ به په تاسو باندے دوه قسمه انعامات اوکړی:

**یو دنیاوی:** ''یُمَتِّعْکُمْ مَتَاعًا حَسَنًا اِلٰٓی اَجَلٍ مُّسَمًّی'' [هود: ۳]

هغه به تاسو تر یو مقرر وخت پورے ( په دنیا کښے) ښکلے فائده درکړی ۔

**دویم اخروی:** ''وَيُؤْتِ كُلَّ ذِىْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ'' [هود:۳]

هر فضل والا (صاحب توحید) ته به د هغه د توحید بدله ورکړی۔

په سورت محمد:۲ کښې دی: '' وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ''

او کومو خلقو چه ایمان راوړو (توحید ئے اومنلو) او نیک عملونه ئے کول او کوم کتاب (قرآن) چه په محمد ﷺ باندے نازل شوے دے هغه ئے منلو کوم چه د هغوی د پروردګار د طرفنه حق دے۔ نو د دے قرآن او توحید دَ منلو په وجے سره به الله تعالیٰ موحدینو له دا فائده ورکړی چه: ''كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ'' [محمد: ۲]

یو خو به هغوی ته دَ هغوی ګناهونه معاف کړی، یا سئیات نه مراد دنیاوی تکلیفونه او پریشانئی به ترے لرے کړی او دَ انسان حالت درست کړی۔ سورت نوح: ۱۰ کښے د توحید د عقیدے انعامات ، احسانات او فوائدو تذکره کولو سره نوح علیه السلام خپل قوم ته په دا شان خطاب کوی چه : '' فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا''

نوح علیه السلام اوے! چه د خپل پروردګار نه دَ خپل کړی شرک معافی اوغواړی ،شرک پریدئ ، هغه خو ډیر معاف کوؤنکے دے۔

د شرک پریښودلو او د الله تعالیٰ وحدانیت منلو سره به الله تعالیٰ تاسو له قسما قسم انعامات درکړی مثلا:

''يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا'' [نوح: ۱۱]

تاسو باندے به دَ اسمان نه باران اوَروی، یعنی قحط سالی به مو

لرے شی۔ او

" وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّيَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهَارًا" [نوح: ۱۲]

تاسو لـه بـه د توحید دَ خاطره مال او دولت او ځامن درکړی، او تاسو له به باغونه درکړی او په هغے کښے به تاسو له نهرونه اوبهیوی۔

دا دی د تـوحـیـددَ عقیدے منلو فوائد او انعامات۔نن صبا چه دَ خـومـره تـکـلـیـفـونـو او پـریشانو هر طرف نه واویلا او فریاد دے ، قحط سـالـی ، د اولاد نـافرمانی، غـرض دا چه هر قسمه پریشانی ده ، نو وجه دا ده چـه نـن انسان د خپل رب توحید پریخے دے او شرک ئے اختیار کړے دے څنګه چه د الله تعالیٰ ارشاد دے چه:

"ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَيْدِي النَّاسِ" [روم: ٤١]

په اوچه او لونده کښے د خلقو د عملونو په وجه فساد خور شوے دے ۔

د دے تـولـو پـریشانو او فساد حل د الله تعالیٰ منل دی ۔ لیکن کـه چـرے نـن ځـوک د خـدائے بنده د رب توحید منی یا بیانوی نو دوی باندے د توحید بیان بد لګی ۔ څنګه چه قرآن کښے دی:

"وَاِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْآنِ وَحْدَهٗ وَلَّوْا عَلٰى اَدْبَارِهِمْ نُفُوْرًا" [بنی اسرائیل: ٤٦]

او هـر کـلـه چـه ته د خپل رب توحیددَ قرآن نه بیانوے نو دا ( د توحید نه منکر) خلق د هغے نه نفرت کولو سره مخ په شا تښتی۔

یو بل ځائے کښے ارشاد دے :

"وَاِذَ ذُكِـرَ الـلّٰـهُ وَحْـدَهُ اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ" [الزمر: ٤٥]

او کله چه د الله توحید ، د الله وحدانیت بیانیږی نو نفرت کوی د هغې نه زړونه د هغه خلقو چه ایمان نه لری په آخرت باندے ، او کله چه د الله نه سوا د نورو ذکر کیږی ( چه دوی هم کولے شی ، دوی هم د الله سره په دے صفاتو او افعالو کښے حصه دار دی) نو په دے باندے خوشخالیږی ۔

د ادے د مشرکانو حال چه د الله د توحید نه متنفره او مخالف دی ، او د توحید بیان په دوی باندے بد لګی۔

## ﴿د شرک حقیقت﴾

دَ شرک همدا حقیقت دے چه د الله په ذات ، اسماؤ،صفاتو او افعالو(کارونو) کښے الله سره نور څوک (مخلوق) شریک کړے شی۔

حضرت شاه ولی الله دهلویؒ الفوز الکبیر کښے لیکی:

''وَالشِّرْكُ اَنْ يُثْبَتَ لِغَيْرِ اللّٰهِ سُبْحٰنَهٗ وَتَعَالىٰ شَيْئٌ مِنْ صِفَاتِهِ الْمُخْتَصَّةِ بِهٖ''

شرک دا دے چه د الله تعالیٰ صفاتِ مختصه ( د الله خاص صفات) کښے یو صفت غیر الله د پاره ثابت کړے شی، په هغوی کښے او منلے شی۔

شاه اسماعیل شهیدؒ د شرک حقیقت بیانولو کښے فرمائی چه د شرک معنیٰ دا ده چه کوم څیزونه الله تعالیٰ خپل ځان د پاره خاص کړی دی او د خپلو بندګانو په ذمه ئے د بندګئی نښے ګرځولی دی هغه څیزونه بل چا د پاره کول ، لکه سجده کول ، ځناور د بل چا په نوم کول ، د بل چا منخته منل ، د مشکل وخت کښے ئے رابلل ، هر ځائے کښے

ئے حاضر ناظر گنړل او قدرت ،تصرف ورله ثابتول ، دے خبرو سره شرک ثابتیږی۔ اګر که بیا ئے د الله نه وړوکے ګنړی او د هغه مخلوق او بنده ئے ګنړی ۔ پـه دے خبره کښے دَ انبیاؤ ، اولیاؤ او د پیریانو او شیاطینو او ښاپیرو فرق نیشته۔ یعنی څوک چه چا سره دا معامله اوکړی هغه به مشرک شی خواه که انبیاؤ اولیاؤ سره وی خواه که پیرانو ،شهیدانو سره وی ، خواه که پیری او ښاپیری سره وی ۔ [مختصر تقویة الایمان:۲۸]

دے عبارتونو سره دا خبره صفا شوه چه د الله تعالیٰ صفات او افعال پـه یـو نبی،ولی،بزرګ،پیر،فقیر،پیری،ښاپیری کښے منل،د الله تعظیم او عبادت دغه مخلوق د پاره کول یعنی رکوع ، سجده یا طواف کول او د هغه پـه نوم باندے نذر او نیاز ورکول یا منخته منل، په مشکلاتو کښے ئے غائبانه رابلل او عالم الغیب او متصرف ئے منل دا ټول د شرک خبرے دی۔

## ﴿د شرک او د مشرک مثال﴾

د مشرک عقیده پـه څه ټهوس (مضبوط) بنیاد باندے نه وی بلکه من ګهړته او بے بنیاده وی ، لیکن مشرک همدا خپل معراج ګنړی۔ همدغه شان ژوند تیراوی او هغه ته چرے هدایت نۀ نصیب کیږی۔ د مشرک مثال الله تعالیٰ داسے بیان کړے دے:

" مَثَلُ الَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِیَآءَ كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ اِتَّخَذَتْ بَیْتًا ط وَاِنَّ اَوْهَنَ الْبُیُوْتِ لَبَیْتُ الْعَنْكَبُوْتِ م لَوْ كَانُوْا یَعْلَمُوْنَ" [العنکبوت: ٤١]

کومو خلقو چه د الله نه علاوه مددګاران نیولی دی هغوی

مثال خو د جولاګی پشان دے، چه هغه ځان له کور جوړ کړی۔ او د ټولو نه زیات کمزورے کور د جولاګی وی، کاش چه دوی پو هیدلے۔

غـور اوفـرمائیی! څرنګ چه جولا(عنکبوت) دَ خپل دننه بدن نـه څـلیښـنا کے لاړے راوباسی او ځان له ترے جاله جوړوی همدغه شان مشـرک هـم د خپـل دنـنه خیالاتو تنسته (تانابانا) جوړه کړی او په هغے یـوه عـقیـده جـوړه وی۔ څـنګه چه جولا په دغه کمزور ترین کور کښے ناستے سره ګمان کوی چه زه په یوه مضبوط ترینه قلعه کښے استوګنه کـوم، هـمـدغه شان یو مشرک هم د خپلو من ګهړته خدایانو په تنسته کښے کیـنـاسـتـلو سره دا ګمان کوی چه د مضبوطے قلا دیوالونو پشان دوی زما پشت پناه دی ۔ د جولا دَ جالے څلورو واړو طرفونو ته یوتور تار تلے وی چه هغے سره دغه جاله تړلے شوے وی او د هغه خیال وی چه که چرے تـکـلیف راشـی یـا دشـمـن مثلا چمچوړۍ (چرمخکئی) وغیره دَ یـوے لارے نه راشی نو زه به دے بلے لارے باندے اوځم او بچ به شم او که چـرے دشمن په دویمه لاره راشی نو زه به په دریمه لاره لاړ شم ۔ همدغه شـان مشرک هم په خپل خیال کښے د مشکلاتو او بلیاتو نه خپل ځان بچ کولو د پاره مختلف درونه او درګاهونه اله او معبودان مقرر کړی وی چـه کـه چـرے بیماری راشی نو فلانئی درګاه ته به لاړ شم، که اولاد مِ نه وی نـو فـلانئی پیر نه به ئے اوغواړم او که د مال دولت ضرورت مِ وی نو فلانے بابا به ئے راکړی۔

لیـکـن څرنګ چه دَ یو جولا جاله د لمنے یوے جتهکے سره یا دَ

هوا یوے چپے سره نیست او نابوده شی همدغه رنګ د تقدیر یوے جتهکے راتللو سره دَ مشرک دَ من ګهړتو عقیدو او خیالاتو قلعه په زمکه کینی او د تکلیف او مصیبت وخت کښے ئے هیڅوک اله او معبود ،پیر او فقیر او بابا په کار نه رائحی۔

یو بل مثال ورکولو سره الله تعالیٰ خلق مخاطب کړی او فرمائیلی ئے دی: ” یٰٓاَیُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ ط اِنَّ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَنْ یَّخْلُقُوْا ذُبَابًا وَّلَوِاجْتَمَعُوْا لَهٗ ط وَاِنْ یَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَیْئًا لَّا یَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوْبُ مَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ط اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِیٌّ عَزِیْزٌ“ [الحج: ۷۳، ۷٤]

اے خلقو تاسو د پاره یو مثال وړاندے کولے شی ۔ دا په غور سره واورئ۔ د الله نه علاوه چه تاسو څوک هم رابلئی نو هغوی خو یو مچ هم پیدا کولے نشی اګر چه هغوی ټول هم دے کار د پاره جمع شی (بلکه دوی خو دومره بے وسه دی چه) که چرے د دوی نه یو مچ څه څیز اوشوکوی او یو ئے سی نو دوی ئے د هغه نه راخلاصولے نشی۔ غوښتونکے هم ډیرے کمزورے دے او چا نه چه غوښتنه کیږی هغه هم ډیر بے وسه دے ، خلقو د الله قدر او نه پیژندو هغه ډیر د قدرت خاوند او غالب دے۔“

د مشرک عقیده وی چه د ده خودساخته اله څوے ، لور ورکولے شی ، الله تعالیٰ به دے خبره باندے رد اوکړو وے فرمائیل چه څوئے لور ورکول خو لرے خبره ده ، دوی خو ناقص الخلقت مخلوق هم نشی پیدا کولے،پیدا کول خو پریده که چرے دا مچ ستاسو دَ خود

ساختـه الـه درگاه باندے پروت نذو نیاز ، حلوه او شیرنئی نه څه واخلی یـوسـی نـو سـتـاسو خود ساخته حاجت روا اولاد ورکونکے د دغه مچ نه خپـل هـغـه تـخـتـولـے شوے څیز هم واپس نشی اخستے نو تاسو له به اولاد څوئے څه درکړی۔

صنم کدہ ہے جہاں اور مردِ حق ہے خلیل

یہ نکتہ وہ ہے کہ پوشیدہ لا الہ میں ہے

غیـر الـلـه تـه غـائـبـانـه چغـے سورے وهل مثلا یا علی مدد ، یا رسـول الله ، یا شیخ عبد القادر جیلانی ، یا معین الدین جشتی ، یا پیره بابا ، یا غوث الاعظم یا داتا وغیره ویونکو د پاره الله تعالیٰ فرمائی:

”لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ ط وَالَّـذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ بِشَيْئٍ اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ اِلَى الْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهٖ ط وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ“ [الرعد: ١٤]

هـم هغه لره بلل حق دی او د هغه نه سوا چه دوی څوک رابلی نـو هـغـوی د دوی دعـا نشی قبلولے ( د دوی مثال د هغه تړی پشان دے) چا چـه خپـل لاسـونـه اوبـو طـرفـتـه اوګده کړی وی د پاره د دے چه د ده خـولـے ته راؤ رسی ، خو رسیدلے ورته نشی ، او د کافرانو دعا او چغه په ګمراهئی کښے ده،بے فائدے ده۔

دلتـه ئے په یو تمثیل سره ښودنه اوکړه چه مشرکان خلق کوم بـاطـل مـعـبـودان رابـلـی د هغوی رابلل او هغوی نه د حاجت پوره کولو سـوال کـول بـالـکل بے فائدے او عبث دی ۔ د غیر الله رابللو مثال دا دے لـکـه یـو تـږے سړے د کو هی په غاړه ولاړ وی اوبو ته په لاس سره اشاره

کوی او ځان طرفته ئے رابلی ، د پاره د دے چه اوبه پخپله د ده خولے ته راشی او د ده تنده سړه کړی ، بیعینه همدا حال د مشرک دے ، ځرنګ چه د اوبو رابلل بے فائدے دی همدغه شان غیر الله ( قبر والا) په حاجاتو او مشکلاتو کښے رابلل بے فائدے دی ـ ځرنګ چه په اوبو کښے د رابلونکی د آواز شعور نیشته او نه ورته د ده د ضرورت او حاجت احساس شته ، همدغه شان باطل معبودان او اهلِ قبور هم د خپلو رابلونکو بلنه او د هغوی د حاجاتو او مصیبتونو نه بے خبره دی ، ځرنګ چه په کوهی باندے ډول نه وی او نه په ډول کښے رسئی وی همدغه شان په مړی کښے د حاجت پوره کولو قدرت او روح والا رسئی نیشته ـ

''وَمَنۡ يُّشۡرِكۡ بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخۡطَفُهُ الطَّيۡرُ اَوۡ تَهۡوِىۡ بِهِ الرِّيۡحُ فِىۡ مَكَانٍ سَحِيۡقٍ'' [الحج: ۳۱]

او څوک چه الله سره ( څوک) شریک ګرځوی نو هغه داسے دے لکه چه د آسمان نه راپریوځی، بیا ئے مارغان په ټونګو ټونګو اوخوری یا ئے هوا چرته لرے ځائے ته یوسی غذار ئے کړی۔

د دے مثال په ذریعه د مشرک تباه کاری او د مشرک د بربادئی بیان ئے اوفرمائیلو چه د مشرک حال داسے دے څنګه چه څوک سړے د آسمان نه راپریوځی او ښکاره مارغان د ده بوټئی اوشکوی یا ئے هوا والوزی په یوه ډیره ژوره کنده کښے ئے غذار کړی چرته چه د ده هډوکی ریزه ریزه شی۔

په دے تمثیل کښے ایمان او توحید له آسمان سره او شرک

کؤنکی لـه د آسمـان نـه رپـریوتونکی سره تشبیه ورکړے شوے ده، او د ښکاری مارغانو نه د شرک افکار او خیالاتِ باطله او نفسانی خواهشات مـراد دی او د هـوا نه مراد شیطان دے ، یعنی کوم سړے چه په شرک کولو سره د ایمـان او تـوحید ډیر اوچت مقام نه ځان راغورزوی، نو دے په هیڅ صـورت کښے بـچ کیـدے نشـی ، یا خـو بـه د بـاطلو آرزوګانو او فاسدو خیـالاتـو خـونړی مـارغـان دے بـوټئی بوټئی کړی او د دۀ عقل او فکر به داسے معطل کړی چه دے به د پو هیدلو او سوچ کولو توفیق نه محرومه شی ، یا بـه شیـطـان د تیـزے هـوا چپے په شان دے والوَزوی او دَ صراط مستقیم یعنی توحید نه به ئے چرته لرے یوسی غوزار به ئے کړی۔

## ﴿دَ شرک قباحت﴾

شـرک کـول د ټـولـو ګـنـا هـونـو او بدو نه لویه ګناه او بدی ده ۔

حضرت لقمان حکیم خپل ځوی ته نصیحت کولو سره فرمائی:

”یٰبُنَیَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ط اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ “ [لقمان:۱۳]

اے زمـا ځـویه! الله سره شریک مه نیسه، بیشکه شرک ( الله سره شریکول جوړول) لوئے ظلم او ګناه ده ۔

شـرک دومره لویه ګناه ده چه که چرے یو بنده د شرک نه توبه کـولـو نـه بـغیـر ، د شـرک پریښودلو نه بغیر مړ شونو الله تعالیٰ د ده دا جرم او ګناه هرګز نه معاف کوی۔

د قرآن ارشاد دے فرمائی:

” اِنَّ اللّٰهَ لاَ يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَشَآءُ“ [النسآء:۱۱۶]

بیشکه الله شرک نه معاف کوی او د شرک نه سوا چه چاته اوغواړی معاف کوی۔ یو بل ځائے کښے ارشاد دے:

''اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوَاهُ النَّارُ'' [المائده: ۷۲]

بیشکه چا چه شریک اونیوو الله سره ( شرک ئے اوکړو) نو په هغه باندے الله جنت حرام کړے دے او د هغه ټهکانه جهنم دے۔

؎ خبر قرآن میں ہے یہ محقق نہ بخشے گا خدا مشرک کو مطلق

یعنی چا چه شرک اوکړو ( او په دے حال کښے مړ شو) هغه جنت ته داخلیدے نشی هغه به همیشه په جهنم کښے اوسی ، هغه چرے هم جهنم نه وتلے او جنت ته داخلیدلے نشی ، د هغه جهنم نه وتل داسے محال ( ناممکن ) دی۔

''حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ'' [الاعراف: ٤٠]

څنګه چه دَ ستنے سوم کښے (په ځاے د تار) اوښ داخلیدل محال دی۔

شرک د عقیدے کینسر دے او د دے چراثیم د کینسر غوندے خطرناک او زهرجن دی ، څرنګ چه جسمانی کینسر انسان لره ختموی هلاک ئے پریدی همدغه شان دا روحانی کینسر (شرک) ټول اعمال او عبادت خوری ، ضائع کوی او انسان جهنم ته رسوی هلاک ئے پریدی۔

شرک کولو سره ټول نیک عملونه حبط او ضائع کیږی که چرے یو عابد عبادت ګذار ، نیک سړے غیر الله رابلی ، هغه ته رکوع ، سجده کوی ، د هغه د نوم نذر و نیاز منی نو د دے شرک په وجے سره د ده ټول عبادات او اعمال او نیکیانے برباد شی۔

دا دومره لویه ګناه ده چه عام انسان خو څه کړے بالفرض که چرے نبی یا ولی هم شرک اوکړی نو د هغوی اعمال هم د الله په نزد مقبول نه دی ۔

قرآن پاک کښے د اتلسو نبیانو نومونه اخستلو نه پس د باقی انبیاؤ اجمالی ذکر کولو نه پس الله تعالیٰ فرمائی:

"وَلَوْ اَشْرَكُوْا لَحَبَطَ عَنْهُمْ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ" [الانعام: ۸۹]

بالفرض ( بفرض محال) که چرے د دے انبیاؤ بهترین جماعت هم شرک کړے وے نو دَ دوی اعمال به هم حبط شوی او ضائع شوی وے۔

الله تعالیٰ حضرت نبی کریم ﷺ ته په طور خاص خطاب سره فرمائی چه اے زما محبوبه! شرک دومره لویه ګناه ده چه :

"لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ" [الزمر: ٦٥]

که چرے بالفرض تا هم شرک اوکړو نو ستا عملونه به هم ضائع شی۔

نبی کریم ﷺ نه د شرک صدور ناممکن دی ولے چه هغه خو لیګلے شوے دَ توحید د پاره دے لیکن په دے آیتونو کښے صرف امت په دے پو هؤل مقصود دی چه شرک کول ډیر لوئے ظلم دے او مشرک انسان خواه که هر څوک وی ، د هر څومره مرتبے او مقام مالک وی او که د هر چا اولاد وی یا د هر چا منونکے وی لیکن همیشه د پاره دَ جنت نه محرومیږی ۔ دا دومره قبیح څیز دے چه اے امتیانو تاسو خو څه کړے که چرے بالفرض پیغمبرانو نه هم د دے صدور شوے وے ، اګر چه کیږی نه ، نو د هغوی عملونه به هم ضائع شوی وو۔ د نبی کریم ﷺ

ارشاد گرامی دے چه : ''مَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ وَمَنْ مَاتَ لاَ يُشْرِكُ بِاللّٰهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ '' [مشكوة]

څوک چه مړ شی او هغه الله سره شریک نیولے وی نو هغه به جهنم ته ځی او څوک چه په دے حالت کښے مړ شی چه الله سره هیڅوک شریک نه وی نیولے نو هغه به جنت ته داخلیږی۔

همدے د پاره خو نبی کریم ﷺ حضرت معاذؓ ته وصیت کولو کښے فرمائیلی وو چه :

''لاَ تُشْرِكْ بِاللّٰهِ شَيْئًا وَاِنْ قُتِلْتَ اَوْ حُرِقْتَ'' [مشكوٰة]

الله سره هیڅوک مه شریکوه اګر که ته اووژلے شے یا اوسوزولے شے۔

## ﴿دَ شرک اقسام﴾

دَ شرک قباحت پیژندلو نه پس د دے اقسام پیژندل هم ضروری دی ۔ د شرک اقسام ډیر زیات دی او پـه هغے کښے څه خاص حصر نیشته۔ که چرے د بعضو په بعضو کښے اندراج ملحوظ اولرو نو اقسام به کم شی ګنے زیات به وی۔

مولانا احمد دین بګوی تلمیذ د حضرت شاه اسحاقؒ په خپل کتاب ''دلیل المشرکین'' کښے دا لاندینی اقسام او په قرآنی آیتونو سره ئے د دے رد بیان کړے دے۔

### (۱) شرک فی الذات ( الله سره په ذات کښے شریک نیول):

''وَقَالَ اللّٰهُ لاَ تَتَّخِذُوْآ اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ج اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَاحِدٌ ج فَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنَ'' [النحل: ۵۱]

او اللـه تعالیٰ فرمائیلی دی چه دوه معبودان مه نیسئی ، بے شکه معبود هغه یو دے ، نو خاص زما نه یریږئ۔

## (۲) شرک فی العلم (الله سره په علم کښے شرک):

"قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِى السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهَ ط وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ" [النمل: ٦٥]

تـه اوایـه چه کوم خلق د الله نه سوا په اسمانونو او زمکه کښے دی د غیـب پـه خبرو نـه پـو هیـږی ، او نـه ورتـه دا معلومه ده چه کله به (ژوندی) پاسولے شی۔

## (۳) شرک فی المشیئت ( الله سره په اراده او خوښه کښے شرک):

"لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ ط يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ط يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا ج وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ط اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ" [الشوریٰ: ۴۹ ، ۵۰]

د ټولـو اسمانونو او زمکو بادشاهی الله تعالیٰ لره ده ، هغه چه څه غـوارې پیـدا کوی ئے ، چا له چه اوغواړی لونړه ورکوی او چاله چه اوغواړی ځامـن ورکـوی یا ورله ځامن او لونړه دواړه ورکوی او څوک چه اوغواړی بے اولاده ئے ساتی ۔ بیشکه هغه ډیر پو هیدونکے د لوئے قدرت والا دے۔

## (٤) شرک فی التصرف (په اختیار کښے شرک):

"قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكُ الْمُلْكِ تُؤْتِى الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ تُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ بِيَدِكَ الْخَيْرَ ط اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيْرٌ" [العمرآن: ۲٦]

تـه اوایـه چـه اے الـلـه! اے د بـادشـاهـئـی مـالـکـه! ته چه چاله اوغـوارے (دَ دنیـا) بادشاهی ورکوے او چانه چه اوغوارے بادشاهی ترینه اخلے او چاله چه اوغوارے عزت ورکوے او ځوک چه اوغوارے ذلیله ئے کـړے ، هـر قسـمـه خیر او شر ستا په لاس کښے دے او بیشکه ته په هر څیز باندے قادر ئے (یعنی دا ټول اختیار او تصرف صرف ستا دے)

**(۵) شرک فی القدرت (په قدرت او طاقت کښے شرک):**

"قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰی اَنْ یَّبْعَثَ عَلَیْکُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِکُمْ اَوْ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِکُمْ اَوْ یَلْبِسَکُمْ شِیَعًا وَیُذِیْقَ بَعْضَکُمْ بَاْسَ بَعْضٍ " [الانعام: ٦٥]

تـه اوایـه چـه الـلـه په دے خبره قدرت لری چه په تاسو باندے د پاسه طرفنه یا ستاسو د خپو لاندے نه عذاب راؤلیږی یا تاسو فرقے فرقے کړی او یوه دَ بلے سره (جنګولو سره په خپلو کښے) د جنګ مزه درته اوڅکوی۔

**(٦) شرک فی العبادت (په عبادت (بندګئی) کښے الله سره شرک:**

"قُلْ یٰٓاَهْلَ الْکِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰی کَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَیْنَنَا وَبَیْنَکُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ" [العمرآن: ٦٤]

تـه اوایـه اے اهـل کتـابـو! کومه خبره چه زمونږه او ستاسو په میـنـځ کښے یو شان (منلے شوے) ده دَ هغے طرفته راشئی۔ هغه دا چه مونږ به د الله نه سوا د هیچا عبادت نه کوؤ۔

**(۷) شرک فی النذر (یعنی الله نه سوا د بل چا په نوم نذر او منخته منل:**

"وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِیْبًا فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَکَائِنَا" [الانعام: ١٣٧]

او دا (مشـرکـان خـلق) د الله پیدا کړو شوو څیزونو یعنی فصل او څـاروو کښې د الله هم یوه حصه مقرروی او په خپل باطل خیال کښې وائی چه دا حصه خو د الله ده او دا زمونږ د شریکانو ده۔

**(۸) شرک فی التسمیه (د اولاد نـوم ایـخـولـو کښې شرک، لکه عبد الرسول ، حسین بخش وغیره):**

''فَلَمَّا اٰتٰهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَاءَ فِيْمَا اٰتٰهُمَا ج فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا تُشْرِكُوْنَ'' [الاعراف: ۱۹۰]

هـر کـلـه چه الله تعالیٰ هغوی له صحیح سالم بچے ورکړی نو هغوی په دغه ورکړی بچی کښې د هغه شریک مقرروی ( یعنی دا بچے فـلانـی ولی ،بزرګ راکړے دے) او کوم شرک چه دوی کوی د الله رتبه د دے نه ډیره اوچته ده۔

**(۹) شرک فی الذبح ( په حلالولو کښې شرک):**

''اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرَ وَمَا اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ'' [البقره: ۱۷۳]

بیشـکه په تاسو باندے مړ شوے څناور ، وینه او د خنزیر غوښه اوپـه کـوم څیـز چه د خدائے نه سوا د بل چا نوم واخستے شی دا ټول ئے حرام کړی دی ۔

**(۱۰) شرک فی التاثیر ( په اثر کولو کښې شرک یعنی د الله نه سوا بل څوک مؤثر منل):** ''وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗ اِلَّا هُوَ ط وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ'' [الانعام: ۱۷]

او کـه چرې الله تاسو ته څه سختي اورسوي نو د هغه نه سوا د هغې څـوک لرې کوؤنکے نیشته او که چرې نعمت او راحت درکوي (نو څوک ئې بندؤنکے نیشته) ځکه چه هغه په هر څیز باندې قدرت لرونکے دے۔

**(۱۱) شرک فی الاستعانت (په مدد غوښتو کښې شرک):**

''اِنْ يَّنْصُرْكُمُ اللّٰهُ فَلاَ غَالِبَ لَكُمْ ج وَاِنْ يَّخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِىْ يَنْصُرُكُمْ مِنْ بَعْدِهٖ ط وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ'' [آلعمرآن: ۱۶۰]

کـه چرې الـلـه ستـاسـو مدد کوي نو بیا په تاسو باندې هیڅوک غالب نشي راتلے او که چرې هغه تاسو پریدي نو بیا څوک دے چه ستاسو امداد اوکړي۔ او مؤمنانو له پکار دي چه خاص په الله دې بهروسه لري۔

**(۱۲) شرک فی النداء (په رابللو کښې شرک):**

''وَلاَ تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لاَ يَنْفَعُكَ وَلاَ يَضُرُّكَ ج فَاِنْ فَعَلْتَ فَاِنَّكَ اِذًا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ'' [یونس: ۱۰۶]

الـلـه تـعـالـیٰ نـه سـوا هـغـه څوک مه رابله چه نه تاته څه نفع رسولے شي او نه درته څه ضرر رسولے شي۔ که چرې داسې دِ اوکړل نو دَ ظالمانو (مشرکانو) نه به شې۔

**(۱۳) شرک فی الاخبار (یعنی د کاهنانو او نجومیانو وغیره ؤ د خبرونو تصدیق کول):**

هـمدغه شان شاه ولی اللهؒ په تفهیمات الهیه کښې د شرک یو څو مصداقات ذکر کړی دی مثلا :

(ا) د وفات شوؤ شخصیاتو بندګی کول۔

(۲) د مریض شفایاب کیدلو نسبت حقیقتا غیر الله طرف ته کول

(۳) د بچی پیدائش چا بل چا طرفته منسوب کول ۔

(۴) دَ چا نه (مافوق الاسباب) رزق وغیره غوښتل۔

شاه عبد القادرؒ په موضح القرآن کښې وئیلی دی چه شرک دا دے چه:

(۵) زمونږ ښه او بد حالت د بل چا اختیار کښې دے۔

(٦) بل څیز ته سجده کول۔

(۷) او اختیار مند ګڼړلو سره چا نه حاجت غوښتل ۔

دَ دے نه علاوه د شرک اقسامو باندے بحث کولو سره شاه ولی اللهؒ په حجه الله البالغه کښې د شرک یو قسم دا ښودلے دے چه:

(۸) خپل علماؤ او بزرګان د الله نه سوا خپل حاکمان او پالونکی جوړول ( شرک فی الحکم یعنی د الله مقابله کښې د غیر خبره او حکم منل) : ''اِتَّخَذُوْا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ'' [التوبه: ۳۱]

دغه خلقو خپل عالمان او مشائخ ( پیران ) د الله نه سوا خپل رب ( حاکم او شارع) جوړ کړی دی۔

مفتی اعظم هند مولانا کفایت الله دهلویؒ په تعلیم الاسلام کښې ( ۹) **شرک فی السمع والبصر ( څوک پیغمبر یا ولی د لرے نزدے نه د الله تعالیٰ پشان لیدونکے او اوریدونکے ګڼړل)** هم د شرک اقسامو کښې شمارلی دی۔

د دے تہولو اشراکو او شرک فی الذات نه علاوه نور اشراک هم شته مثلا

**(۱۰) شرک فی الصفات (د الله تعالیٰ په صفاتو کښے څوک شریکول)**

دا شرک په ړومبو اقسامو کښے جزوی طور باندے تیر شوے دے۔

”اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ یُمِیْتُكُمْ ثُمَّ یُحْیِیْكُمْ ط هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَنْ یَفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ مِنْ شَیْئٍ ط سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰی عَمَّا تُشْرِكُوْنَ“ [الروم: ٤٠]

الله هغه ذات دے چا چه تاسو پیدا کړئ، بیا ئے تاسو له رزق درکړو، بیا به هغه (په وخت پوره کیدلو) تاسو له مرګ درکوی، بیا به مو هغه ژوندی کوی آیا ستاسو په شریکانو کښے داسے څوک شته دے چه په دے کارونو کښے یو کار اوکړے شی(یعنی د دے صفاتو څوک مالک شته دے؟) نیشته، پاک دے الله او اوچت دے د هغے نه چه دوی ئے ورسره شریکان جوړوی۔

**(۱۱) شرک فی الاسماء (د الله په نومونو کښے شرک، یعنی د الله تعالیٰ نوم چا مخلوق له ورکوی):**

”وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰی فَادْعُوْهُ بِهَا ص وَذَرُوا الَّذِیْنَ یُلْحِدُوْنَ فِیْ اَسْمَآئِهٖ ط سَیُجْزَوْنَ مَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ“ [الاعراف: ۱۸۰]

او خاص الله تعالیٰ د پاره دی ښه ښه نومونه، نو په دغه نومونو سره هغه رابلئی، او کوم خلق چه د هغه په نومونو کښے کوږوالے اختیاروی زر ده چه د هغے سزا به بیا مومی۔

**(۱۲) شرک فی الالوهیت (په خدائی کښې شریک):**

"وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ" [المائده:۷۳]

او هیڅوک اله (معبود) نیشته دے او د هغه یو ذات نه سوا۔

**(۱۳) شرک فی الربوبیت (په رب والی کښې شریک):**

"وَلاَ يَاْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوْا الْمَلاَئِكَةَ وَالنَّبِيِّيْنَ اَرْبَابًا ط اَيَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ مُسْلِمُوْنَ" [آلعمرآن: ۸۰]

او نه تاسو ته دا حکم درکوی چه تاسو فرشتے او پیغمبران ارباب (رب) جوړ کړئ۔ آیا حکم به کوی تا سو ته په کفر پس دَ هغے چه تاسو مسلمانان شوئ۔

**(۱٤)شرک فی الشرع اوالتشریع(په حکم یا شرع جوړولو کښې شرک)**

دَ دے دوه اجزاء دی:

**(الف) شرک فی التحلیل والتحریم**: د الله په مقابله کښې دَ خپل طرفنه حرام او حلال جوړول یعنی دَ شرعے دلیل نه بغیر دَ کوم پیر ،استاذ وغیره دَ خپل طرفنه په حرام کرده او حلال کرده کښے تابعداری کول ، کوم دَ الله تعالیٰ دَ حرام کرده او حلال کرده نه خلاف وی مثلا الله تعالیٰ چه کوم لباس،خوراک او څناور حلال کړی دی هغو لره حرام ګنړل چه استاذ یا پیر دا څیزونه منع کړی دی وغیره ۔ حالانکه الله تعالیٰ فرمائی:

"لاَ تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَا اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ" [المائده:۸۷]

مؤمنانو! کوم پاکیزه څیزونه چه الله تعالیٰ تاسو دَ پاره حلال

کړی دی هغه مه حراموی۔

(ب)**شرک فی الحکم والقانون**: دا چه انسان دَ الله تعالیٰ په مقابله کښے دَ بل چا اطاعت اوکړی او الله تعالیٰ احکامات او قوانین پریږدی او دَ غیر یعنی دَ طاغوت حکم او قانون باندے عمل کوؤنکے شی او هغه لره خپل حقیقی حاکم او فیصله کوؤنکے اومنی۔ حالانکه الله تعالیٰ فرمائی:

''وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكَافِرُوْنَ'' [المائده: ٤٤]

او څوک چه د الله تعالیٰ نازل کړو احکامو مطابق حکم نه کوی، فیصله نه کوی نو داسے خلق کافران دی۔

شاه عبد القادر دهلویؒ په موضح القرآن کښے لیکی چه:

''شرک فقط دا نه دے چه دَ خدائے نه سوا دَ چا عبادت اوکړی بلکه په حکم کښے شرک دا دے چه دَ بل چا اطاعت کونکے شی۔ [موضح القرآن تحت انعام:۱۲۲]

حاکمیت مطلقه صرف دَ الله تعالیٰ دَ پاره دے۔ په دے کښے هیڅوک شریک کیدلے نه شی۔ همدغه شان دَ قانون جوړولو حق هم صرف الله تعالیٰ لره دے، نو فیصله او قانون د الله او رسول ﷺ منل پکار دی۔ ولے چه الله تعالیٰ فرمائی: ''اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ'' [یوسف: ٤٠]

''نه دے حکم او فیصله مګر خاص الله دَ پاره''

خوزمونږ دَ اشاعت التوحید والسنت اکابرینو او مشایخو په فهم کښے اسانتیا دَ پاره اندراج ملحوظ لرلو سره دَ شرک دوه غټ قسمونه بیان کړی دی:

(۱)**شرک اعتقادی**: یعنی په عقیده کښې شرک۔

(۲)**شرک فعلی**: یعنی په عمل او عادت کښې شرک۔

بیا دَ شرک اعتقادی څلور قسمونه دی:

(الف) شرک فی العلم (ب) شرک فی التصرف

(ج) شرک فی الدعاء (د)شرک فی العبادت۔

**(الف) شرک فی العلم**:

دا چه څوک مخلوق نبی، ولی، پیر فقیر، پیرے ښاپیرے یا فرشته دَ الله تعالیٰ پشان عالم الغیب اوګنړلے شی چه دے هم دَ ظاهری اسبابو نه بغیر د الله تعالیٰ پشان هر قسمه حال نه خبردار دے، د خلقو دَ زړونو نه واقف دے او هر ځائے نه اوریدونکے او لیدونکے دے، دا شرک فی العلم دے ۔ نو دے عقیدے سره بنیادم مشرک کبرړی ولے چه عالم الغیب، حاضر وناظر، هر ځائے نه لیدونکے اوریدونکے او علیم بذات الصدور صرف الله تعالیٰ دے او یواځے دَ هغه صفات دی، په دے صفاتو کښې مخلوق شریکول شرک دے۔

ځرنګ چه دَ ګمراه او جاهلو خلقو خیال دے چه نبی کریم ﷺ یا زمونړه پیر یا قبر والا هرځائے کښې حاضر او ناظر (موجود) دے او دَ امت یا دَ مرید دَ حال نه خبردار دے ۔ حالانکه دَ قرآن ارشاد دے:

"وَعِندَہٗ مَفَاتِحُ الْغَیْبِ لاَ یَعْلَمُھَا اِلَّا ھُوَ" [الانعام: ۵۹]

او یواځے الله سره دی دَ غیب کنجیانے ۔ نه پوهیږی په دے باندے دَ هغه نه سوا بل څوک ۔

په ټول مخلوق کښې هیڅوک هم عالم الغیب نشته۔

"قُلْ لاَ يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهَ ط وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ" [النمل:٦٥]

اوایه (دے خلقو ته) چه نه پوهیږی په غیبو باندے هغه څوک چه په اسمانونو کښے دی او په زمکه کښے دی د الله نه سوا۔ او دوی ته دا پته نشته چه دوی به کله راپاسولے شی۔

ابن نجیم ابو حنیفه ثانی حنفیؒ فرمائی:

"مَنْ قَالَ اَنَّ اَرْوَاحَ الْمَشَائِخِ حَاضِرَةٌ تَعْلَمُ يَكْفُرُ" [بحر الرائق شرح کنز الدقائق:١٢٤/٥]

چا چه دا اوے(عقیده ئے اولرله) چه دَ مشائخو (اولیاؤ وغیره) روحونه حاضریږی او پوهیږی نو دغه سړے کافر کیږی (په دے عقیدے سره) ۔

نبی کریم ﷺ هم عالم الغیب نه دے دَ باری تعالیٰ ارشاد دے:

"قُلْ لاَ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِىْ خَزَائِنُ اللّٰهِ وَلاَ اَعْلَمُ الْغَيْبَ" [الانعام: ٥٠]

(دے خلقو ته) اوایه چه زه تاسو ته دا نۀ وایم چه ما سره دَ الله خزانے دی ( چه چاته څه ورکړم) او نۀ زه په غیبو خبریم۔

ملا علی قاری حنفیؒ فرمائی:

"اَلْكُفْرُ عَلٰى اِعْتِقَادٍ اَنَّهٗ عَلَيْهِ السَّلاَمُ عَالِمُ الْغَيْبِ" [مرقات:١٠٠/٣]

دا عقیده لرل چه پیغمبر ﷺ عالم الغیب ( په غیبو خبردار) دے ، دا کفر دے۔

## (ب) شرک فی التصرف:

څوک خدائی مخلوق ،نوری،ناری،خاکی د الله تعالیٰ پشان متصرف فی الامور او اختیار لرونکے ،وژونکے او ژوندیے کونکے ، اولاد ورکونکے ،روزی فراخه او تنګونکے ،بیماری او تکلیف او مصیبت راوستونکے ، صحت تندرستی شفا او فتحه او شکست ورکونکے ،نفع او نقصان رسونکے او مرادونه پوره کونکے ګنړل او څوک نبی،ولی،پیر،فقیر ،پیری او فرشتے سره دا عقیده وابسته لرل یعنی د الله غوندے تصرف ورله ثابتول دا شرک فی التصرف دے ، بیا خواه که دا ګنړی چه دَ دے کارونو طاقت دوی ته پخپله حاصل دے یا الله ورته ورکړے دے (عطائی دے) په هر شان لره شرک دے۔ الله تعالیٰ قرآن پاک کښے فرمائی:

"قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ج لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِنْ ظَهِيْرٍ" [سبا: ۲۲]

(ته دوئ ته) اوایه چه راؤبلئی هغه څوک چه تاسو ورباندے (د اختیارمندئ) ګمان کوی دَ الله نه سوا ، هغوی مالکان نه دی دَ یو ذرے هومره ، نه په آسمانونو کښے او نه په زمکو کښے او نۀ دَ هغوی په دواړو کښے څه حصه شته او نه په دوی کښے څوک دَ الله معاون دے۔

په ژبه دَ شاعر:

خدا فرما چکا قرآن کے اندر
مرا محتاج ہیں پیر و پیغمبر

نہیں طاقت سوا میرے کسی میں
کہ کام آوے تمہارے بے کسی میں

جو خود محتاج ہووے دوسرے کا
بھلا اس سے مدد کا مانگنا کیا؟

بلکه پخپله هغه اولیائے کرام چا لره چه دا مشرکان متصرف او مختار گنڑی هغوی اقرار کوی چه زمونږه هیڅ اختیار نشته ۔ څنګه چه یو مشهور بزرگ حضرت علی هجویریؒ چاته چه دا جاهلان خلق "داتا گنج بخش" (ورکړے والا او خزانے ورکونکے، نعوذبالله) وائی ، خپل ځان مخاطب کوی او دَ خلقو دَ تعلیم په غرض فرمائی:

یا علی! خلق ترا گنج بخش مے گوید حالانکه یک حبه دردست شما نیست۔ گنج بخش ورنج بخش او خداوند تعالیٰ است۔

اے علی! خلق تا ته گنج بخش وائی خو تا سره چالره ورکولو دَ پاره یو ادیله(پیسه) هم نیشته ، گنج بخش او رنج بخش صرف دَ الله ذات دے۔

مولانا عبد الحئی صاحبؒ په خپله فتاویٰ کښے او علامه ابن نجیمؒ په بحر الرائق کښے دَ خلقو دَ تصرف او اختیار دا غلطه عقیده نقل کړے او دَ دے رد ئے کړے دے چه دَ خلقو دا عقیده چه:

"اِنَّ الْمَیِّتَ یَتَصَرَّفُ الْاُمُوْرَ دُوْنَ اللّٰهِ وَاِعْتِقَادُهٗ بِذَالِكَ کُفْرٌ"

چه مړے په معاملاتو کښے تصرف او اختیار لری سوا دَ الله نه ، نو دا عقیده کفر دے۔

همدغه شان محمد بن احمد بن عبد الهادیؒ فرمائی:

"فَلاَ لِلْمَسِیْحِ وَلاَ لِغَیْرِهٖ مِنَ الْبَشَرِ وَلاَ لِاَحَدٍ مِنَ الْخَلْقِ یَمْلِكُ لِاَحَدٍ مِنَ الْخَلْقِ ضَراً وَّلاَ نَفْعًا بَلْ لَا لِنَفْسِهٖ وَاِنْ کَانَ اَفْضَلُ الْخَلْقِ" [الصارم المنکی: ۱۳۲]

یعنی نه مسیح ،نه بل څوک بشر ، او نۀ په مخلوق کښے څوک کس دَ بل چا دَ پاره دَ نفع او نقصان مالک دے بلکه خپل ځان دَ

پاره هم نیشته خو اه که هغه افضل الخلق( محمدﷺ) ولے نه وی۔

حضرت نبی کریمﷺ هم متصرف او مختار نه دے ۔ قرآن پاک کښے دی :

”قُلۡ لاَ اَمۡلِكُ لِنَفۡسِىۡ نَفۡعًا وَّلاَ ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ “ [الاعراف:۱۸۸]

ته اواته چه زۀ دَ خپل ځان دَ پاره دَ نفع او نقصان اختیار نه لرم مگر څه چه الله تعالیٰ اوغواړی ( هغه کیږی)۔ بل ځائے ارشاد دے:

”قُلۡ اِنِّىۡ لاَ اَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرًّا وَّلَا رَشَدًا“ [الجن: ۲۱]

دوی ته اوایه چه بیشکه زه تاسو دَ پاره هم دَ ضرر او نفع مالک نه یم ۔

داعقیده او نظریه چه نبی کریمﷺ ،حضرت علیؓ او اولیاء او امامان متصرف او مختار دی دا دَ شیعه گانو عقیده ده، څرنګ چه دا خبره شیخ عبدالقادر جیلانیؒ په خپلو کتابونو کښے هم بیان فرمائیلے ده۔

**(ج) شرک فی الدعاء:**

دَ الله نه سوا څوک نبی ،ولی، بزرگ،پیر،فقیر، قبر،شجر،حجر،پیرے ، ښاپیرے فرشته یا بُت غائبانه رابلل او دَ هغه نه مدد غوښتل په دے عقیدے سره چه دے زما چغه دَ هر ځائے نه ، لرے نزدے نه اوری ، دا شرک فی الدعاء دے مثلا یا رسول الله مدد، یا علی مدد یا پیره رامدد شے وغیره۔ غائبانه رابلل صرف او صرف دَ یو الله حق دے۔

” اُدۡعُوۡنِىۡ اَسۡتَجِبۡ لَكُمۡ“ [مومن: ٦٠]

ما رابلئی ، زۀ ستاسو بلنه اورم ، زه ستاسو مدد کولے شم۔

الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک رابلل نه دی پکار ، دَ قرآن فرمان دے:

”وَلاَ تَدۡعُ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مَا لاَ یَنۡفَعُكَ وَلاَ یَضُرُّكَ ج فَاِنۡ فَعَلۡتَ فَاِنَّكَ اِذًا مِنَ الظّٰلِمِیۡنَ“ [یونس: ۱۰۶]

او مۀ رابله دَ الله نه سوا هغه څوک چه نه تالره فائده درکولے شی او نه نقصان، کچرے تا دا کار اوکړو (غیر دِ راؤبلل) نو هغه وخت به ته دَ ظالمانو (یعنی مشرکانو) نه شے۔

لیکن نن صبا اکثر گمراه یا جاهلان خلق دَ دے فرمان الهی برعکس نور خلق رابلی، کله نبی ﷺ، او کله څوک ولی، کله یا پیره رامدد شے، یا لویه څوانه په نیک نظر راؤرسیږے، او کله یا علی، یا رسول الله او مدد کن یا معین الدین چشتی غوندے شرکیه نعرے لگوی۔

حالانکه رسول الله ﷺ دَ خپل تره څوی ابن عباسؓ ته تعلیم ورکوی فرمائی:

”وَاِذَا سَئَلۡتَ فَاسۡئَلِ اللّٰهَ وَاِذَا اسۡتَعَنۡتَ فَاسۡتَعِنۡ بِاللّٰهِ“[ترمذی]

او هر کله چه ته سوال کوے نو دَ الله نه سوال کوه او کله چه مدد غواړے نو یوازے الله نه مدد غواړه۔

شیخ جیلانی فرمائی:

”سَلُوۡهُ وَلاَ تَسۡئَلُوۡا غَیۡرَهٗ اِسۡتَعِیۡنُوۡا بِهٖ وَلاَ تَسۡتَعِیۡنُوۡا بِغَیۡرِهٖ تَوَكَّلُوۡا عَلَیۡهِ وَلاَ تَوَكَّلُوۡا عَلٰی غَیۡرِهٖ“ [الفتح الربانی: ۱۱۰]

سوال کوئ الله نه او بل چا نه سوال مه کوئ، امداد غواړئ الله نه، او بل چا نه مدد مه غواړئ او په هغه باندے توکل (بهروسه) کوئ په بل چا باندے بهروسه مه کوئ۔

شاه اسحاقؒ فرمائی:

” وحق آنست که انکار فقهاء عام است از آنکه استمداد از قبور انبیاء کنند یا از قبور غیر ایشان ہمه جائز نیست ۔[مسائل اربعین :مسئله:۴۰]

او حق دا دے چه دَ فقهاؤ انکار عام دے ، استمداد (مدد غوښتل) خواه که دَ پیغمبرانو دَ قبرونو نه وی ،خواه که دَ غیر انبیاؤ دَ قبرونو نه ، ټول ناجائز دی ۔

**(د) شرک فی العبادات**:

دَ الله تعالیٰ نه سوا یو نبی،ولی،پیر فقیر،پیری ،ښاپیری وغیره دَ پاره هغه عبادات او افعال او تعظیم کول کوم چه الله تعالیٰ خپل ځان دَ پاره خاص ساتلی دی او دَ خپل عبادت نخښے ئے ګرځولے دی مثلا الله نه سوا هیڅ یو ژوندی ، مړ ، حجر، شجر ، قبر په وړاندے رکوع سجده کول ، طواف کول ، تعظیم سره لاس تړلے اودریدل ، دَ دغه ځائے کانړی او دیوالونه ښکلول ، هغه سره خپل مخ او سینه مخل، دَ رخصت کیدلو وخت کښے دَ هغه ځائے نه په شا تلل ، دَ هغه ځائے دَ خواؤشا او ځنګل ادب کول یعنی هلته ښکار نه کول، او واښه نهٔ کټ کول، ښاروی نه څرول، دَ لرے لرے نه دَ ثواب په نیت سره دَ هغه ځائے قصد کول او ورله سفر کول، دَ هغه په نوم باندے روژه نیول وغیره او هلته کښے غلافونه او ګلونه اچول ، جارو وهل ، رڼا کول او فرش غوړول وغیره ناجائز او شرک فی العبادت دے ، ولے چه دا ټول افعال او آداب الله سره او دَ الله کور سره مختص دی بل چا دَ پاره کولو سره

شرک ثابیتږی۔ او دا ټول کارونه او عبادتونه صرف الله تعالیٰ دَ پاره کول پکار دی ۔ د قرآن ارشاد دے :

”وَاعْبُدُو اللّٰهَ وَلاَ تُشْرِکُوْا بِهٖ شَیْئًا“ [النسآء: ۳٦]

او دَ الله عبادت کوئ او دَ هغه سره هیڅوک ( په عبادت کښے) مه شریکوئ۔

یو ځائے کښے الله تعالیٰ دَ نبی کریمﷺ ژبے مبارکے سره اعلان فرمائی:

”قُلْ اِنِّیْ نُهِیْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ“ [الانعام: ٥٦]

دے خلقو ته اوایه چه زه خو دَ هغه خلقو عبادت کولو نه منع کړے شوے یم کوم چه تاسو رابلئی د الله نه سوا۔

همدغه شان الله تعالیٰ فرمائی:

” لاَ تَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ وَلاَ لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَهُنَّ اِنْ کُنْتُمْ اِیَّاهُ تَعْبُدُوْنَ“ [حم سجده: ۳۷]

نمر او سپوږمئی ( یعنی مخلوق ته) سجده مۀ کوئ بلکه سجده صرف الله ته کوئ چا چه دوی پیدا کړی دی که چرے تاسو هم دَ دغے الله بندګان جوړیدل غواړئ۔

یعنی څوک چه غواړی چه زه دِ دَ الله بنده جوړ شم نو سجده دے صرف هغه ته کوی ولے چه سجده کول دَ الله حق دے هیڅ یو مخلوق ته کول نه دی پکار ۔ او په مخلوق کښے سپوږمئی ، نمر ، نبی ، ولی ټول برابر دی ۔ الله تعالیٰ فرمائی:

"وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ" [الحج: ۲۹]

او صرف دَ الله دَ کور طواف دِ کوی (دَ بل چا دَ کور طواف دِ نه کوی)

حدیث پاک کښې راځی:

"عَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ سَرَّهٗ اَنْ يَّتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ" [مشکوٰة باب القيام]

دَ حضرت معاویہؓ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه څوک دا خبره خوښوی چه خلق دِ دَ دهٔ په مخکښې په ادب او تعظیم سره ولاړ وی دَ بت او تصویر پشان نیغ ولاړ وی ، نو ده دَ خپل ځان دَ پاره په اور کښې ټهکانه جوړه کړه۔

مختصر دا چه کوم کارونه او افعال او تعظیم او آداب الله تعالیٰ خپل ځان دَ پاره خاص کړی دی نو هغه دِ بل چا دَ پاره اونه کړے شی ولے چه دا شرک دے ځنګه چه نن صبا مشرکان او جاهلان خلق زیارتونو ته ځی او هلته سجدے کوی ، قبر نه چاپیره طوافونه کوی او هلته کښې غلافونه کانړی وغیره خپل بدن سره مږی او ښُکلوی ئے۔

**شرک فعلی:** دَ دے هم ګنړ قسمونه دی مثلا :

(الف)تحریمات غیر الله (ب) نذور غیر الله (ج) شرک فی البرکات ۔

**(الف) تحریمات غیر الله:**

دَ دے نه مراد دا دے چه یو انسان دَ الله تعالیٰ حلال کړی څیزونه حرام ګنړی ، دا شرک فی التحریمات دے لکه دَ خوراک څکاک ، لباس رسمونه چه فلانے خوراک مه خورئ ،فلانے خوراک دِ

صرف سړی خوری ښځے دِ نۀ خوری یا ښځے دِ خوری سړی دِ نه خوری لکه دَ بی بی فاطمےؓ صحنک کوم ته چه په پښتو کښے دَ بیبیانو کونزاخی یا لړوان وغیره وائی او ورسره دا چه دا صحنک لړوان وغیره به هغه ښځے خوری کومے چه واده شوے وی۔ په سړو باندے او ناوادۀ شوؤاو نابالغه جینکو باندے حرام دی۔

همدغه شان فلانی ځناور ښځو دَ پاره او فلانی سړو دَ پاره دی څنګه چه بهِ دَ مکے مشرکانو وئیل او همدغه شان دَ نن صبا بعضے خلق هم وائی چه تورے (تِلی،طحال) خوراک دَ پاره نارینو لره ورکول نه دی پکار ولے چه بیا دَ جنګ او جګړے وخت کښے لاس کار نه ورکوی،وسله به نشی چلولے، یا دَ چرګ سَر هغه بچو له خوراک دَ پاره ورکول نه دی پکار دَ چا چه پلاران ژوندی وی بلکه یتیمان ئے خوړے شی وغیره ۔ همدغه شان دا وئیل چه دَ فلانی رنګ کپړے په مونږه راستے نه دی ، مونږ ته بیا نقصان رارسی، فلانے ورځ یا فلانے وخت ، فلانے کار یعنے جامے وینځل ، صفائی کول ،نوکونه کټ کول او جارو وهل ښه نه دی یا په فلانئے میاشت کښے نکاح او واده کول ښه نه دی وغیره وغیره۔

دا ټول دَغیر الله تحریمات دی او دا عقیده شرکیه ده ۔ کوم څیز چه الله حرام کړے او منع کړے نه وی او خلق ئے دَ خپل طرفنه حرام او منع ګنړی نو دے ته تحریمات دَغیر الله وائی۔ حالانکه قرآن پاک کښے الله تعالیٰ دا قسمه تحریمات غیر الله باندے رد کولو سره فرمائی:

”وَقَالُوْا هٰذِهٖۤ اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ ۖ لَّا يَطْعَمُهَاۤ اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَاَنْعَامٌ

حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا وَاَنْعَامٌ لاَ يَذْكُرُوْنَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا افْتِرَآءً عَلَيْهِ“ [الانعام: ۱۳۹]

او دا مشرکان خلق وائی چی دا ځناور او فصل پیداوار( خوراک خوړل وغیره)منع دی ، حرام دی ، دابه هیڅوک نه خوری مګر هغه څوک چه مونږ به غواړو۔ دَخپل خیال موافق ، او بعضے ځناور دی چه په هغے باندے سورلی کول حرام دی او بعضے داسے ځناور دی چه دا حلالولو وخت کښے ورباندے دَ الله نوم نه اخلی ، دا ټول په الله باندے دروغ تړل دی ( یعنی دا ټول تحریمات د غیر الله دی )

ارشاد ربانی دے چه : ”وَقَالُوْا مَافِيْ بُطُوْنِ هٰذِهِ الْاَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِّذُكُوْرِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلٰى اَزْوَاجِنَا“ [الانعام: ۱٤۰]

او دوی دا هم وائی چه کوم (بچی) ددے ځناور په خیټو کښے دی هغه خالص زمونږ د سړو د پاره دی او زمونږ په ښځو باندے حرام دی ( یا ددے برعکس واخلئی چه دابه ښځے خوری په سړو باندے حرام دی )

حالانکه الله تعالیٰ فرمائی چه ځما حلال کړی څیزونه مه حراموئی :

”يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْآ لاَ تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَا اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ“ [المائده: ۸۷]

اے ایمان والو ! مه حراموئی هغه پاکیزه څیزونه کوم چه الله تعالیٰ تاسو دپاره حلال کړی دی ۔ بلکه :

”وَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلاَلاً طَيِّبًا وَاتَّقُوا اللّٰهَ “ [المائده: ۸۸]

اوخورئی دالله تعالیٰ ورکړو شوؤ حلالو او پاکیزه څیزونه ، او دالله نه اویریږی یعنی دغه څیزونه حرام مه ګرځوئی ۔

هم دغه شان الله تعالیٰ دَ لباس او جامو باره کښے هم فرمائی

چه دا خو ما ستاسو د بدن پټولو او زنیت د پاره پیدا کړی دی دا ولے حرام ګرځوئی ۔

''قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِیْنَةَ اللّٰهِ الَّتِیْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّیِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ'' [الاعراف: ۳۲]

اوایه (دغه خلقو ته چا چه د الله تعالیٰ تحلیلات لباس زنیت او خوراک حرام ګنړلی دی چه) چا حرام کړے دے الله تعالیٰ زنیت (لباس) او پاک رزق (خوراک) کوم چه الله تعالیٰ خپلو بندګانو د پاره پیدا کړے دے ۔ داسے نه ده ، دا ټول څیزونه چا هم حرام کړی نه دی ، لهٰذا دا څیزونه حلال ګنړلو سره په استعمال کښے راولئی ۔

## (ب) نذور لغیرالله :

ددے نه مراد دا دے چه دالله تعالیٰ نه سوا د کوم مخلوق نبی ، ولی ، پیر فقیر ، پیری ، فرشتے د نوم نذرو ونیاز او منخته اومنلے شی چه که چرے زما فلانے کاراوشی یا فلانے مشکل می ختم شی نو زه به دَ فلانی قبروالا یا دَ فلانی نبی ولی په نوم نذر ورکوم ، چیلے ، ګډ به حلالوم ، شیرنی ، حلوه یا فلانے څیز په ورکوم وغیره ، داټول نذر دَ غیرالله او شرک دے ۔ ے

اگر قرآن کو سچ مانتے ہو — تو پھر تم منتیں کیوں مانتے ہو
کبھی ہو مانتے منت نبی ﷺ کی — کبھے حسنین ؓ کی ، گا ہے علیؓ کی
کبھے پیروں کی اور گا ہے ولی کی — کبھے سدو جی ، شیطان کے وصی کی

حالانکه نذر منل عبادت دے اوعبادت الله تعالیٰ د پاره کول پکار دی ۔ دغه شان که چرے نذر او نیاز منل وی نو د الله تعالیٰ د نوم

منل پکار دی ۔ د الله تعالیٰ هم دغه حکم دے چه :

"وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ" [الحج: ۲۹]

او خلقو لـه پکار دی چه هغوی دِ صرف د الله تعالیٰ دپاره خپلے منختے او نذرونه پوره کړی ، د الله نه سوا دَ غیرالله دَ نوم نذرے حرام گرځولے دے ۔

"اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ وَمَا اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ" [البقره:۱۷۳]

بیشکه الله تعالیٰ په تاسو باندے حرام کړے ده مرداره ، وینه او دَ خنزیر غوښه او هغه څیز هم کوم چه الله تعالیٰ نه سوا بل چا دپاره نامزد کړے شی ۔ مفسرین ددے آیت په تفسیر کښے لیکی :

"لَوْاَنَّ مُسْلِمًا ذَبَحَ ذَبِيْحَةً وَقَصَدَ بِذَبْحِهَا التَّقَرُّبُ اِلٰى غَيْرِ اللّٰهِ صَارَ مُرْتَدًّا وَذَبِيْحَتُهٗ ذَبِيْحَةُ مُرْتَدٍّ وَلَوْ ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ" [معارف القرآن، نیشا پوری وغیره]

کـه چرے یو مسلمان یو ذبیحه ذبح کړی اودے سره ئے د غیرالله د تقرب قصد اوکړو نو هغه مرتدشو او د هغه مذبوحه د مرتد مذبوحه ( حرامه) ده اگر چه په هغے باندے د الله تعالیٰ نوم اخستے شوے وی ۔

څرنگ چه زمونږه عوام نن صباپه دے شرک کښے مبتلا دی، دَ نبیانو ، ولیانو او مزارونو دنوم نذر ورکوی او کله خو هم هلته په مزار باندے ذبح کولو د پاره ئے بوځی، که چرے څوک د خدا ئے بنده دے پو هوی چه دا شرک دے نو بیا ځان د پاره مختلف قسم دَ دروغو حیلے او جوا زونه راؤباسی کله وائی چه مونږ خوددی خدایان نه گنړو او کله وائی چه مونږ خو د حلالو وخت کښے په دوئ د الله نوم اخلو ، وغیره ۔

حالانکه همدغه ذکر شوی آیت لاندے تفسیر عثمانی کښے لیکلی دی چه "وَمَا اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ" دا مطلب چه په دغه ځناور باندے د الله تعالی نه سوا د بُت و غیر نوم واخستے شي یعنی د الله تعالیٰ نه سوا د یوبت یا پیری یا یو خبیث روح یا پیر یا پیغمبر په نوم ئے نامزد کړی او د دغه ځناور روح دَ هغه نذر کړی ، او د هغوی د تقرب یا رضا لټولو په نیت سره ذبح کړے شي او محض د هغوی دَ خوشنودئی په غرض سره د هغوی ساه ویستل مقصود وی نو ددے ټولو ځناورو خوراک حرام دے اګر که د ذبحے په وخت کښے په هغوی باندے تکبیر وئیلے دی او د الله تعالیٰ نوم پرے اخستے وی ۔

خو هغه خو د غیرالله په نوم باندے نا مزد کړے شو کوم چه عینِ شرک دے ۔ نو څرنګ چه په خنزیر اوسپی باندے د ذبحے په وخت کښے تکبیر وئیلو سره حلال والے نه راځی او په مرداره باندے د الله نوم اخستلو سره څه نفع نشی کیدے هم دغه شان د کوم ځناور ځان چه د غیرالله نذر او هغه د پاره ئے نامزد کړے وی هغه باندے د ذبحے وخت کښے د الله نوم اخستلو سره هرګز هرګز هیڅ نفع او حلت نشی راتلے ۔ انتهیٰ ۔ حدیث پاک کښے راځی :

"لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللّٰهِ اَىْ لِتَعْظِيْمِ غَيْرِ اللّٰهِ" [مسنداحمد]

چا چه د غیر الله تعظیم د پاره ذبحه اوکړه الله دے په هغه باندے لعنت اوکړی ۔ د الله نه سوا د بل چا د نوم نذر منل شرک او کفردے ۔ ابن نجیم ابو حنیفه ثانیؒ فرمائی :

" اَلنَّذْرُ عِبَادَةٌ وَالْعِبَادَةُ لِغَیْرِ اللّٰهِ کُفْرٌ" [بحر الرائق]

نذر منل عبادت دے او د غیرالله عبادت کول کفردے ۔

یا د لرئ چه دا نذر صرف د ځناور ذبحه کولو پورے محدود نه دی چه ګینی ذبحه کول دِ نا جائز وی او که څوک روپے پیسے ، خوراک ، دیګ ، فیرنی ، کهیر ، شمع ، تیل ، اګربتئی ، غلاف وغیره نذر اومنی نو هغه دی جائز وی ، هرګزنه ، په نذر کښے ذبحه کول او بل څه څیز نذر منل ټول برابر دی او شرک او حرام دی ۔ د فقه حنفی مشهور کتاب الدر المختار کښے دی :

"اِعْلَمْ اَنَّ النَّذْرَالَّذِیْ یَقَعُ لِلْاَمْوَاتِ مِنَ الْعَوَامِ وَمَا یُؤْخَذُ مِنَ الزَّیْتِ وَالشَّمْعِ وَنَحْوِهَا مِمَّا یُنْقَلُ اِلٰی ضَرَائِعِ الْاُوْلِیَاءِ الْکِرَامِ تَقَرُّبًا اِلَیْهِمْ فَهُوَ بِالْاِجْمَاعِ بَاطِلٌ وَحَرَامٌ"

پوهه شه چه اکثر عوام چه کومے منختے مړو دَ پاره ورکوی او کوم تیل ، ډیوے ، شمع او نور څیزونه چه د اولیائے کرامو تقرب د پاره د هغوی قبرونو ته وړلے کیږی هغه بالاجماع باطل او حرام دی ۔

## (ج) شرک فی البرکات :

د دے نه مراد دا دے چه د الله تعالیٰ نه سوا څوک نبی ، ولی ، پیر فقیر لره په مال ، اولاد ، کاروبار ، رزق او عمر کښے برکت اچونکے اومنلے شی ۔ دا عقیده هم د شرک ده، څرنګ چه جاهلان خلق دَ شیخ عبد القادر جیلانیؒ یوؤلسمه ورکوی یا دَ یوبل ولی ، قبر والا ، پیر فقیر په نوم باندے څه بل څه ورکوی، او په خپله ذمه ئے مقرر کړی وی چه که چرے دا ور نه کړو نو بیا به شیخ ، پیر ، فقیر خفه او ناراضه شی او په

مونږ باندے به مصیبت او آفت راشی او په ورکولو سره دا حضرات زمونږ په مال ، اولاد ، عمر ، رزق او کاروبار کښے برکت اچوی یا دَ یو کار شروع کولو نه مخکښے دَ الله نوم او بسم الله لوستلو په ځائے دَ یو پیر ، فقیر ، ولی ، نبی نوم اخستلو سره کار شروع کول چه یا پیره خیر ، په نوم دَ فلانی ، په دے عقیدے سره وائی چه دَ هغه په نوم سره برکت راځی ـ همدغه شان یو خاص ځائے ، قبر ، دَ چا دَ چلّے ځائے وغیره برکت والا ګڼړی چه هلته تللو سره برکت حاصلیږی ، دا ټول شرک فی البرکات دی ، په حقیقت کښے خو برکت اچونکے په هر څیز کښے صرف الله تعالیٰ دے ـ دَ قرآن پاک ارشاد دے:

"تَبٰرَكَ الَّذِیْ بِیَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ" [الملك: ۱]

برکت والا دے هغه ذات دَ چا په لاس کښے چه بادشاهی ده او هغه په هر څیز باندے قادر دے ـ

په یو بل مقام کښے الله تعالی دَ زمکے او دَ زمکے ټولو څیزونو ذکر کولو نه پس فرمائی:

"وَجَعَلَ فِیْهَا رَوَاسِیَ مِنْ فَوْقِهَا وَبٰرَكَ فِیْهَا"[حم سجده: ۱۰]

الله دَ زمکے دَ پاسه غرونه ایخے دی او الله په دے ذمکه ( ارض وما فی الارض) کښے برکت ایخے دے۔

یعنی په ټولو څیزونو کښے ، کاروبار کښے برکتونه اچونکے الله پاک دے بل هیڅوک برکت اچونکے نیشته ـ

دَ شرک دے دوؤ غټو قسمونو ( اعتقادی او فعلی) نه علاوه

نور هم جُزوی قسمونه دی کوم چه همدے دوؤ قسمونو کښې مندرج دی لیکن د اهمیت په بنا باندے دَ هغے جدا مختصر بیان ضروری دے۔

**شرک فی التسمیه:**

مخلوق دَ پاره هغه نوم ایخودل کوم چه الله تعالیٰ دَ پاره خاص دی لکه چا ولی، بزرګ ، پیر فقیر ته هم داتا (ورکونکے) چاته غریب نواز چا ته ګنج بخش ( خزانے ورکونکے) او چا ته غوث ( فریاد رس) وغیره وئیل ۔ الله تعالیٰ دَ دے قسم نومونو په باره کښې فرمائی:

"اِنْ هِيَ اِلَّآ اَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوْهَا اَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ط" [النجم:۲۳]

دا ټول نومونه دی کوم چه تاسو او ستاسو پلارانو نیکونو ایخے دی په دے باندے دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه هیڅ دلیل ( سند ) نه دے نازل شوے۔

همدغه شان دَ خپل اولاد وغیره نوم هم نبی بخش( نبی ورکونکے) محمد بخش ، امام بحش ، حسین حسن بخش ، پیر بخش، ګنګا بخش، عبد النبی، بندۀ علی، بندۀ حضور، شهنشاه وغیره نوم ایخودل، دا ټول شرک فی التسمیه ( په نوم ایخودلو کښې شرک) دے او شریعت د داسے نومونو ایخودلو نه منع فرمائیلے ده۔

ابن حجر مکی ؒ فرمائی:

"وَيُحْرَمُ مَلِكُ الْاَمْلَاكِ لِاَنَّ ذٰلِكَ لَيْسَ لِغَيْرِ اللّٰهِ وَكَذَا عَبْدُ النَّبِيِّ وَعَبْدُ الْكَعْبَةِ اَوِ الدَّارِ اَوْ عَلِيِّ اَوِ الْحَسَنِ لِاِبْهَامِ الشِّرْكِ" [شرح منهاج بحواله راه سنت]

دَ چا نوم شهنشاه ایخودل حرام دی ولے چه دا نوم صرف دَ الله تعالی دے او همدغه شان عبد النبی او عبد الکعبه او عبد الدار او عبد العلیؓ

او عبد الحسن نوم هم صحیح نه دے ولے چه دے کښے ایهام دَ شرک دے۔

په یو حدیث کښے هم راځی چه دَ الله تعالیٰ په نزد بدترینو نومونو کښے هغه سړے دے چه دَ چا نوم شهنشاه وی ۔

شاه عبد العزیز دهلویؒ لیکی:

''شرک چنانچه در عبادت وقدرت می شود ہمیں قسم شرک در تسمیه ہم میشود این قسم نام نہادن شرک در تسمیه است ازیں ہم احتراز لازم است'' [فتاویٰ عزیزی]

یعنی څرنګ چه په عبادت او قدرت کښے شرک وی همدغه شان شرک په تسمیه ( نوم ایخودلو) کښے هم وی ، دغه شان نومونه ایخودل شرک فی التسمیته دے ۔ دَ دے نه بچ کیدل ضروری دی۔

همدغه شان چا سړی دَ پاره هغه نوم ایخودل یا هغه نوم سره رابلل کوم چه دَ الله تعالیٰ په خاصو نومونو کښے وی لکه رحمن ، صمد ، رزاق وغیره ، دا ټول هم ناجائز دی بلکه عبد الرحمن ، عبد الصمد او عبد الرزاق وغیره پوره نوم ایخستل پکار دی ۔ لیکن دَ دین او دَ قرآن او سنت نه دَ لری والی په وجه اکثر خلق دَ دے قسمه ناجائزو او حرامو خبرو عام طور سره ارتکاب کوی۔ حالانکه رحمن دَ الله تعالیٰ خاص نوم دے کوم چه دَ هیڅ یو مخلوق دَ پاره جائز نه دے لیکن کوم خلق چه په دے عظیم جرم کښے بالعموم مبتلا دی او عوام خو څه کړے چه خواص هم دَ دے خیال نه ساتی لکه دَ پښتو مشهور شاعر عبدالرحمن باباؒ ته رحمن بابا ، او دغه شان رحمن بابا کالج، رحمن کتب

خانه ،رحمن میډیکل ستور ، رحمن کمپنی، رحمن پراپرټی او رحمن چوک وغیره الفاظ په وئیلو او لیکلو کښې رائجې. مفسرینو ، محدثینو او فقهاؤ په دے باندے بحث کړے دے او دَ رحمن استعمال ئے غیر الله دَ پاره ناجائز ګرځولے دے.

"اَلرَّحمٰنُ اِسمٌ مُختَصٌّ بِاللّٰہِ تَعَالٰی لاَ یَجُوزُ اَن یُّسَمّٰی بِہٖ غَیرُہٗ"

رحمن دَ الله نوم دے کوم چه غیر الله دَ پاره ایخودل جائز نه دی. [تفسیر قرطبی، معارف القرآن، مفردات، عزیزی وغیره]

**شرک فی الحلف:**

دغه شان یو شرک دَ غیر الله قسم خوړل هم دی . دَ الله تعالیٰ نه سوا دَ یو مخلوق قسم خوړل څنګه چه جاهلان خلق کوی چه زما دِ په پلار قسم وی ، په مور قسم ، په اولاد قسم ،دَ پیر بابا قول واچوه ، دَ لوئے ځوان قول می دِ اوهی، دَ مور پلار په سر میے دِ قسم وی ، رسول یا قرآن مے دِ اووهی وغیره. او همدغه شان شاعران خلق وائی چه زما دے دَ محبوب قسم وی وغیره دا ټول شرک دی.

دَ حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه په یوه قافله کښے حضرت عمرؓ دَ پلار قسم اوخوړو ، نو رسول الله ﷺ ټولو خلقو ته په اوچت آواز سره اوفرمائیل چه واورئ الله تعالیٰ تاسو لره دَ پلارانو قسمونو خوړلو نه منع فرمائی څوک چه قسم خوری نودَالله قسم دے خوری ګینی خاموش دے شی . [بخاری]

یو بل ارشادِ نبوی دے:

"مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللّٰهِ فَقَدْاَشْرَكَ " [مشکوٰۃ]

چا چه دَ غیر الله قسم اوخوړو نو یقینا هغه شرک اوکړو۔

**نجوم پرستی:**

یو شرک کوم کښے چه خلق عام طور سره مبتلا وی هغه دا دے چه اکثر خلق په ستورو باندے یقین کوی او په هغوی کښے تاثیرات منی چه فلانے ستورے کله راؤخیژی نو فلانے کار کیږی یا دَ کوم سړی چه فلانے ستورے وی دَ هغه به دا کار کیږی ، دا کار به ئے نه کیږی ، هغه بدبخت یا خوش بخت دے ، او دا قسمه خبرے په اخبارونو او رسالو کښے عموما راځی چه دا هفته یا میاشت به څرنګے وی وغیره یا څنګه چه عام نجومیان او نجوم پرست چه دَچا اشتهارونه اولیکونه په دیوالونو او اخبارونو کښے وی ، دَ غیب خبرے کول او خلق په هغے باندے یقین کوی ، همدے ته نجوم پرستی وائی ۔ دا هم دَ مکے دَ مشرکانو په شرکونو کښے یو شرک دے دَ کوم چه په قرآن او حدیث کښے ځائے په ځائے رد موجود دے۔ په یو حدیث کښے راغلی دی دَ کوم روایت چه زید بن خالد جهنیؓ نه دے چه په حدیبیه کښے رسول الله ﷺ مونږ ته دَ سحر مونځ راکړو ، دَ شپے باران شوے وو ، دَ مونځ نه فارغ کیدلو نه پس رسول الله ﷺ مونږ طرفته متوجه شو او وے فرمائیل :

"هَلْ تَدْرُوْنَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ"

آیا تاسو ته معلومه ده چه ستاسو رب دے وخت کښے څه اووے؟ صحابه کرامؓ عرض اوکړو چه الله او رسول ﷺ ته به معلومه

وی ۔ نو نبی ﷺ اوفرمائیل :

"قَالَ اَصْبَحَ مِنْ عِبَادِیْ مُؤْمِنٌ بِیْ وَکَافِرٌ فَاَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللّٰهِ وَرَحْمَتِهٖ فَذَالِكَ مُؤْمِنٌ بِیْ وَکَافِرٌ بِالْکَوَاکِبِ فَاَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِنَوْءِ کَذَا فَذَالِكَ کَافِرٌ بِیْ مُؤْمِنٌ بِالْکَوَاکِبِ" [بخاری ومسلم]

یعنی اللہ تعالیٰ فرمائیلی دی چه نن زما بندګانو په داسے حالت کښے صبا کړو چه بعضو په ما باندے ایمان راؤړونکی وو او بعضے کافر (منکر) وو ۔ چا چه اوئیل چه په مونږ باندے دا باران دالله تعالیٰ په فضل او رحمت سره شوے دے نو هغه په ما باندے ایمان لرونکے دے او دَ ستورو دَ اثر نه منکر شو،او چا چه اووے چه دا باران دَ فلانی ستوری (اثر) او راختلو او پریوتلو سره شوے دے نو هغه زما نه منکر او په ستورو باندے ایمان ( یقین) لرونکے شو۔

همدغه شان لاس کتل ، فال راویستل او قسمت معلومول هم په دے کښے شامل دی کوم چه ناجائز دی او په دے باندے عقیده لرل شرک او کفر دے۔ حدیث پاک کښے راځی:

"مَنْ اَتٰی عَرَّافًا فَسَاَلَهٗ عَنْ شَیْءٍ لَمْ تُقْبَلْ لَهٗ صَلٰوةٌ اَرْبَعِیْنَ لَیْلَةً" [مسلم]

څوک چه یو کاهن ، نجومی ( دَ غیبو خبرے ښودونکی) له راغے او هغه نه دَ څه خبرے تپوس اوکړو نو تر څلویښتو ورځو پورے به دَ هغه مونځ نه قبلیږی۔ په یو بل حدیث کښے راځی:

"مَنْ اَتٰی کَاهِنًا فَصَدَّقَهٗ بِمَا یَقُوْلُ اَوْ اَتٰی اِمْرَاَتَهٗ حَائِضًا اَوْ اَتٰی اِمْرَاَتَهٗ فِیْ دُبُرِهَا فَقَدْ بَرِئَ مِمَّا اُنْزِلَ عَلٰی مُحَمَّدٍ ﷺ" [مشکوٰة]

څوک چه یو کاهن له راغے او دَ هغه په خبروئے یقین اوکړو یا ئے خپلے ښځے سره دَ حیض په حالت کښے صحبت اوکړو یا ئے دَ ښځے په شا کښے بدکاتری اوکړه نو دَهغه کتاب او دین نه بیزاره شو کوم چه په نبی کریم ﷺ باندے نازل کړے شوے دے۔

**شرکیه تعویذونه ، تار ګنډے او کړے وغیره:**

بعضے خلق په غاړه کښے مختلف قسم تارونه ، مزی ، کنډے یا هغه تعویذونه کوم کښے چه شرکیه الفاظ دی ، زوړندوی ، دَ بعضو خلقو په لاسونو کښے مختلف قسمه کړے او سلئ وغیره په نظر راځی ، دا ټول شرکیه اعمال او خرافات دی کومو سره چه په ایمان کښے خرابی راځی ۔ حضرت خذیفه بن یمانؓ دَ یو مریض تپوس له لاړو ، دَ هغه په مټ باندے هغویؓ یو تار تړلے اولیدو نو هغه ئے پریکړو او لرے ئے کړو او دَ قرآن دا آیت ئے اولوستو:

''وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُ هُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ مُشْرِكُوْنَ'' [یوسف:۱۰۶]

دَ خلقو اکثریت الله خو منی لیکن هغه سره نور څوک هم شریکوی۔ [ابن کثیر:۴۹۴/۲]

دَ وکیعؒ په روایت کښے دی چه حذیفهؓ دغه مریض ته اووے چه که چرے ته په دے حالت کښے مړ شوے چه ستا په لاس باندے دا تار تړلے شوے وی نو زه به ستا جنازه نه کوم۔

همدغه شان عمران بن حصینؓ روایت کوی چه:

نبی کریم ﷺ دَ یو سړی په لاس کښے دَ پیتلو یوه کړه اولیده

نو تپوس ئے ترے اوکړو چه دا څه دی؟ هغه جواب ورکړو دا مے دَ واهنے(یو قسم بیماری) په وجے سره په لاس کړے ده ـ نبی کریم ﷺ دا خبره رد کړه او وے فرمائیل چه دا به درله بیماری نوره هم زیاته کړی، او که چرے په داسے حال کښے مړ شے نو چرے به کامیابی (جنت) حاصل نه کړے شے۔ [احمد ، ابن حبان]

لیکن افسوس چه نن امت محمدی ﷺ دَ رسول الله ﷺ دا ارشاد شاته غورزولی دی ، او انسان چه چرته هم نظر اوچت کړی هر طرفته کړے او سَلی،تارونه،مزی او شرکیه تعویذونه وغیره دَ خلقو په غاړو ، متهو او لاسونو کښے په نظر راځی ـ که چرے دے سره دا عقیده وابسته وی چه په دے کښے څه اثر او کمال دے وغیره نو دا شرکیه عقیده ده ، او که چرے دا عقیده نه وی نو بیا هم دا تارونه ، مزی ، کړے وغیره د کافرانو،سکهانو او شیعه ګانو سره مشابهت دے کوم چه ناجائز او منع دی ـ په حدیث کښے دی :

"مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ" [ابوداؤد]

چا چه یو قوم سره مشابهت اوکړو نو هغه به دَ هغوی نه وی ـ

همدغه شان بعضے خلق دَ ماشومانو په غاړه ، لاس یا خپو کښے کنجکے وغیره تړی ، حالانکه په حدیث کښے دی:

"اِنَّ الرُّقٰی وَالتَّمَآئِمَ وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ" [مشکواة]

بے شکه (شرکیه) دمونه ، کنجکے او دَ محبت (ناجائزه ) تعویذ دا ټول شرک دی۔

همدغه شان جاهلان خلق دَ ماشوم سر ته چاړهٔ ، چاقو وغیره په دے خیال سره کیږدی چه چرته دے اونه یریږی حالانکه دا هم منع دی۔ ام المؤمنین عائشے صدیقےؓ له به نوی پیدا شوی ماشومان راوستے کیدل او هغے به هغوی دَ پاره دَالله نه دَ برکت دعا کوله ۔ یوه ورځ یو ماشوم راوستے شو کله چه هغے دَ هغه تکیه اینبودله نو دَ هغه دَ سر لاندے هغے ته یو چاقو په نظر راغے ، تپوس ئے اوکړو چه دا څه دی ؟ کور والو ورته اوے چه مونږه دَ پیریانو نه محفوظ ساتلو دَ پاره داسے کوؤ۔ حضرت عائشےؓ هغه چاقو واخستو ، غوزار ئے کړو او هغه خلق ئے د داسے کولو نه منع کړل اووے وئیل چه رسول الله ﷺ به دا نه خوښول او دَ هغوی دَ دے خبرو نه سخت نفرت وو۔ په همدے وجه عائشهؓ دَدے نه منع کوی [الادب المفرد للبخاری]

دے سره سره هغه تعویذات هم منع او ناجائز بلکه شرک دی کومو کښے ه شرکیه الفاظ لیکلی شوی وی لکه یا فرعون ، یا ابلیس ، یا جبریل ، یا محمد ، یا فاطمه ، یا علی وغیره ۔ او په بعضو تعویذونو کښے خو صرف کرښے یا هندسے وی وغیره۔ یادَ دم کولو دَ پاره شرکیه وظائف وائی او دَموی ئے ، دَ کوم منع والے چه دَ ړومبی حدیث نه ثابت شو چه دا قسمه تعویذ شرک دے۔

بعضے خلق د فال کتابونو نه فال اوباسی او څوک دَ علم نجوم یا طوطی مینا په ذریعے سره قسمت معلومَوی حالانکه په حدیث کښے راغلی دی:

"اَلْعِيَافَةُ وَالطَّرْقُ وَالطِّيَرَةُ مِنَ الْجِبْتِ" [مشکوٰة]

مارغۀ سره یا دَ مارغۀ الوزولو سره فال اخستل او دَ هغه په آواز باندے فال اخستلو دَ پاره کانړے ویشتل او بدفالی دا ټول شرک دے

بعضے جاهلان فیروزه یا بل کوم کانړے په ګوته کښے واچوی او هغه مفید او برکتی ګنړی او په خپل رزق کښے د اضافے امیدوار وی هالانکه د رزق ذمه وار الله دے:

"وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا" [هود: ٦]

"او په زمکه باندے هیڅ ګرځیدونکے ځیز نیشته مګر دَ هغه رزق دَ الله په ذمه دے"

ځوک دَ چا دَ نوم یولئی ساتی یا په غوږونو کښے دَ غیر الله دَ نوم مُندرے اچوی ۔ دا ټول هغه ځیزونه دی کومو سره چه دَ ایمان او توحید مضبوط عمارت کمزورے کیږی ، دے دَ پاره دَ دے نه بچ کیدل لازمی دی۔

هاؤ کوم دَمونه او وظائف چه دَ قرآن او حدیث نه صحیح ثابت دی یا هغه تعویذونه کومو کښے چه دَ قرآن یو سورت ، آیت یا دَ قرآن او حدیث یو دوا وی او جائز کار دَ پاره وی نو دَ یو څو شرائطو سره مشروط کیدلو سره جائز دی۔

**وړومبے شرط:** دا دِ موثرِ حقیقی نه ګنړی بلکه موثرِ حقیقی دِ الله تعالیٰ ګنړی او دا دِ صرف دَ سبب حده پورے منی ۔

**دویم شرط:** په دے کښے دِ یو غیر شرعی لفظ نه وی نه دَ یو اجنبی ژبے یا بے معنے لفظ دے وی۔

**دريم شرط:** بيت الخلاء ته دَتللو وخت کښې دِ ځان سره نه اوړي ولې چه دا دَ قرآن او حديث بے حرمتي ده۔

**څلورم شرط:** د استعمال طريقه کښې دِ څه غير شرعي خبره نه وي۔

**پنځم شرط:** جائز مقصد دَ پاره دے وي۔

غرض دا چه الله تعالىٰ لره په خپل ذات ، صفاتو او اسماؤ او افعالو کښې يکتا منل توحيد دے ، او په دے کښې هغه سره څوک بل څوک حصه دار او شريک گرځول ، او هر هغه عمل او حرکت کوم چه دَ توحيد عقيدے سره متصادم وي هغے ته شرک وئيلے کيږي ۔ دَ همدے توحيدِ کامل بيانونو او دَ شرک رد دَ پاره الله تعالىٰ ټول پيغمبران او رسولان دنيا ته راليگلي دي او هغوي دَ ټولو نه مخکښے دا مسئله بيانه کړے او دَ شرک رد ئے کړے دے او همدا دَ هغوي متفقه دعوت وو۔

## ﴿دَ انبيائے کرامو عليهم السلام دَ بعثت مقصد﴾

دَ انسانيت رهنمائي دَ پاره چه څومره پيغمبران او رسولان راليگلے شوي دي دَ هغوي ټولو دعوت او کوم آسماني کتابونه چه نازل شوي دي دَ هغے ټولو خلاصه توحيد دے ۔ هر نبي دَ ټولو نه مخکښے دَ توحيد دَ عقيدے دعوت ورکړے دے دَ حضرت نوح عليه السلام ذکر په قرآن کښے موجود دے ، هغوي خپل قوم ته تقريبا نهه نيم سوا کاله پورے دَ توحيد مسئله اوښودله ، په هر ځائے او هر مقام او هر حال کښے ئے دَ توحيد نغمه اورولے ده۔ قرآن فرمائي: "وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ" [الاعراف: ۵۹]

مونږه نوح علیه السلام خپل قوم طرفته لیږلے وو ، نو هغه ورته اووے چه اے زما قومه! دَ یو الله عبادت کوئ ولے چه تاسو دَ پاره دَ الله نه سوا بل ثوک اله نیشته۔

همدغه شان هود علیه السلام اوفرمائیل:

"یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ" [الاعراف:٦٥]

اے زما قومه! دَ یو الله عبادت کوئ ولے چه تاسو دَ پاره دَالله نه سوا بل ثوک اله نیشته۔

حضرت صالح علیه السلام هم دا خبره کړے وه:

"یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ" [الاعراف:٧٣]

اے زما قومه! دَ یو الله عبادت کوئ ولے چه تاسو دَ پاره دَالله نه سوا بل ثوک اله نیشته۔

حضرت شعیب علیه السلام هم دغه دعوت ورکړے وو:

"یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ" [الاعراف:٧٥]

اے زما قومه! دَ یو الله عبادت کوئ ولے چه تاسو دَ پاره دَالله نه سوا بل ثوک اله نیشته۔

په کوه طور باندے نبوت او رسالت عطا کیدو وخت کښے حضرت موسیٰ علیه السلام ته هم الله تعالیٰ همدا مسئله دَ توحید ارشاد فرمائیلے وه: "اِنَّنِیْ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِیْ" [طه: ١٤]

بیشکه زه الله یم ۔ نیشته دے ثوک اله زما نه سوا پس تهٔ زما عبادت کوه ۔

مختصر دا چه دَ تمامو انبیاؤ علیهم السلام همدا دعوت او مسئله وه ۔ الله تعالیٰ فرمائی :

''وَمَا اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِیْ اِلَیْهِ اَنَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنَا فَاعْبُدُوْنِ'' [الانبیاء: ۲۵]

او مونږه نه دے لیږلے تانه مخکښے ځوک رسول خو هغه ته مو همدا حکم ورکړے وو چه خبره همداسے ده چه هیڅوک اله نیشته زما نه سوا ، پس تاسو زما عبادت کوئ۔

حتی چه نبی آخر الزمان ، امام الانبیاء ، خاتم النبیین حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ ته هم دَ همدے مسئلے وحی اوکړے شوه او دَ همدے مسئلے دعوت ورکولو حکم ورکړے شو ۔ دَ قرآن پاک ارشاد دے:

''قُلْ اِنَّمَا هُوَاِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّاِنَّنِیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ'' [الانعام: ۱۹]

اے پیغمبرئے پاکه ﷺ ! ته دے خلقو ته اوایه چه اله خو هغه هم یو دے او زه ستاسو دَ شرک نه بیزار یم۔

نبی کریم ﷺ دَ دے حکم تعمیل کولو سره دَ قرآن په ژبه کښے داسے دعوت ورکړو : ''وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ اِنِّیْ لَكُمْ مِنْهُ نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ'' [الذاریات: ۵۱]

او تاسو الله سره بل څوک اله (معبود) مه جوړوئ۔ زه تاسو طرفته تاسو لره صفا یرونکے یم۔

دَ خپلو ذمه وارو مزید پوره کولو دَ پاره ئے دَ قریشو قوم کوهِ صفا باندے راجمع کړو او هغوی ته ئے دَ توحید تعلیم ورکولو سره

اوفرمائیل :"یَآ اَیُّھَا النَّاسُ قُوۡلُوۡآ لاَ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهَ تُفۡلِحُوۡا" [مستدرك ،احمد]

اے خلقو! دا اووائی (دا عقیده اولرئ) چه دَ الله نه سوا بل هیڅوک اله نیشته دے نو کامیاب به شی۔

مولانا محمدادریس کاند هلویؒ په حواله دَاصابه ترجمه ربیعه بن عباد نه دَ نبی کریم ﷺ دا الفاظ نقل کړی دی کله چه هغوی ﷺ قریشو ته دَ صفا غونډئ باندے دَ توحید دعوت ورکولو :

"یَآ اَیُّھَا النَّاسُ اِنَّ اللّٰهَ یَاۡمُرُکُمۡ اَنۡ تَعۡبُدُوۡهُ وَلاَ تُشۡرِکُوۡا بِهٖ شَیۡئًا"

اے خلقو! الله تاسو ته دا حکم درکوی چه دَ هغه عبادت کوئ او هغه سره هیڅوک مه شریکوی [سیرت المصطفیٰ :۱۷۹/۱]

بهر حال دَ ټولو انبیاؤ حتی دَ نبی کریم ﷺ په بیان کښے هم دغه مسئله ده او هغوی دَ غیرو نه دَ الوهیت نفی کړے ده او صرف دَ الله تعالیٰ دَپاره ئے الوهیت ثابت کړے دے ۔ په دے وجه دَ اله په معنیٰ باندے پوهیدل ضروری دی ځکه چه دا دَ تمامو انبیاؤ دَ دعوت مرکزی موضوع ده۔

## ﴿دَ اله معنیٰ﴾

دَ اِله معنی تقریبا هم هغه ده کومه چه دَ توحید دَ معنیٰ او مطلب عنوان لاندے تیره شوے ده یعنی کوم صفات دَ الوهیت چه مخکښے بیان شوی دی هغه دَ اله معنیٰ ده ۔ او په قرآن پاک کښے هم چرته چه دَ اله لفظ راغلے دے نو اکثر دَ دے نه مخکښے یا روستو دَ الوهیت دَ صفاتو څه تذکره وی ، همدغه صفات دَ اله معنیٰ ده مثلا خالق ،رازق،اولاد او هر څه ورکونکے ، زمکه ، آسمان او دَدے ترمینځه

مالک او مختار ،مدّبِر او متصرف ، عالم الغیب ، نافع او ضار ، حاجت روا او مشکل کشا ، غائبانه چغے اوریدونکے ، فریاد رس او غوث وغیره۔

حضرت عبد اللہ بن عباسؓ هم دَ اله همدا معنیٰ دَ سورت محمددَ یو آیت لاندے کوی او فرمائی:

”فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لاَ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ“ [محمد: ۱۹]

”اَیْ لاَ ضَارَ وَلاَ نَافِعَ وَلاَ مَانِعَ وَلاَ مُعْطِیَ وَلاَ مُعِزَّ وَلاَ مُذِلَّ اِلَّا اللّٰهَ“

یعنی دَ لاَ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ معنیٰ دا ده چه نفع او نقصان رسونکے ، ورکوؤنکے او منع کوؤنکے عزت ورکونکے او ذلیل کوؤنکے دَ الله نه سوا هیخوک نیشته ۔

شیخ عبد القادر جیلانیؒ دَ اله معنیٰ داسے کوی:

”کُلُّ مَنِ اعْتَمَدَتَّ عَلَیْهِ فَهُوَ اِلٰهُكَ وَکُلُّ مَنْ خِفْتَهٗ وَرَجَوْتَهٗ فَهُوَ اِلٰهُكَ وَکُلُّ مَنْ رَءَیْتَهٗ فِیْ ضَرٍّ وَنَفْعٍ فَهُوَ اِلٰهُكَ “ [الفتح الربانی: ۵۹]

هر هغه خوک چه ستا وربانده اعتماد وی(چه دے ورکوؤنکے او کوؤنکے دے) نو هغه ستا اله دے او هر هغه څوک چه ته ترینه یریږے او امید لرے پس هغه ستا اله دے او هر هغه څوک چا نه چه ته نفع او نقصان وینے ( چه مافوق الاسباب د ده په اختیار کښے دی) نو هغه ستا اله دے ۔ په تفسیر قرطبی کښے ئے دَ اله معنیٰ داسے لیکلے ده :

”اَلْاِلٰهُ کُلُّ مَا یَاْلَهُ اِلَیْهِ النَّاسُ وَیَتَضَرَّعُوْنَ لَدَیْهِ وَیَتَوَاجَهُوْنَ اِلَیْهِ فِیْ حَوَائِجِهِمْ وَمَشَاکِلِهِمْ وَمَصَائِبِهِمْ وَیَعْتَقِدُوْنَ بِاَنَّ لَهٗ سُلْطَةً غَیْبِیَّةً فِیْ جَلْبِ الْمَنَافِعِ

وَدَفْعِ الْمُضَّارِ اِسْتِقْلَالًا اَوْ وَسَاطَةً وَشَفَاعَةً فِیْمَا لاَ یَقْدِرُ عَلَیْهِ النَّاسُ فِیْ دَائِرَةِ الْاَسْبَابِ الْعَادِیَةِ عِنْدَهُمْ" [قرطبی]

الـه هغه چا ته وائی چه خلق دَ هغه په مخکښے عاجزی کوی او په مشکلاتو کښے دَ هغه طرفته توجه او فریاد کوی او امید لری۔ او دا عقیده لری چه هغه په هغه کارونو کښے په کومو باندے چه خلق ظاهری اسبابو سره نه قادریږی، په نفع ورکولو او نقصان نه بچ کولو دَ پاره په کائنات کښے استقلالاً یا واسطةً یا شفاعةً تصرف او اختیار حاصل دے۔

امام اعظم ابو حنیفهؒ فرمائی:

"وَاللّٰهُ سُبْحَانَهٗ وَاحِدٌ لَا مِنْ طَرِیْقِ الْعَدَدِ وَلٰکِنْ مِنْ طَرِیْقِ اَنَّهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ فِی الْاُلُوْهِیَّةِ"

الله یو دے دَ گنتیٔ په طریقه باندے نه بلکه هغه یو او تنها دے، په دے لحاظ سره چه دَ هغه سره په الوهیت ( خدائی توب) کښے هیڅوک شریک نیشته۔

په یو بل مقام کښے دَ اله معنیٰ کولو سره فرمائی:

"وَاللّٰهُ تَعَالٰی وَاحِدٌ فِیْ اِسْتِحْقَاقِ الْاُلُوْهِیَّةِ لاَ شَرِیْكَ لَهٗ فِیْ اِسْتِحْقَاقٍ اَنْ یُّتَّخَذَ اِلٰهًا" [فقه اکبر]

الله تعالی دَ اله کیدلو یوازے مستحق او په دے استحقاق کښے هیڅوک دَ هغه شریک نیشته چه هغه دِ اله اومنلے شی۔

بس همدغه دَ اله معنیٰ ده ، اوس که چرے څوک دا دَ الوهیت صفات الله دَ پاره اومنی او ثابت کړی نو دۀ الله خپل اله اومنلو، وے گڼلو ۔ او چا چه دا صفات دَ الوهیت غیر الله دَ پاره اومنل چه فلانے

نبی، ولی ، پیر ، فقیر ، پیرے ، فرشته هم دَ نفع او نقصان مالک ، حاجت روا ، مشکل کشا او هر کار کولو والا دے۔ نو ده هغه لره خپل الٰه اوګنړلو ۔ دحضرت شیخ عبد القادر جیلانیؒ ،ابو حنیفهؒ او دَ قرطبیؒ دَ عباراتو مطلب هم دغه دے چه په چا کښے دا صفات منل هغه لره دَ خپل اله جوړولو مترادف دی۔

غرض دا چه دغه دَ الٰه معنیٰ کومه کښے چه همیشه دَ مشرکانو اختلاف راغلے دے ، کله چه نبی کریم ﷺ دَ خپل قوم قریشو په وړاندے همدا لا اله الا الله یعنی دَ توحید مسئله بیان کړه چه الٰه دَ الله نه سوا بل څوک نیشته نو هغوی د دے دَ منلو نه انکار اوکړو،ولے چه هغوی عرب وو هغوی دَ الٰه په معنیٰ باندے پوهیدل ، او ورته پته وه چه دَ دے منلو سره کوم کوم درودیوار او الٰه او معبود پریښودل راځی۔

په دے وجه هغوی دَ یو الٰه منلو ته تیار نه وو او دَ توحید دے مسئلے نه ئے دومره نفرت کولو چه کله به هغوی ته اوئیلے شو چه دَ الله نه بغیر هیڅوک الٰه نیشته نو هغوی به وئیل :

"اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا اِنَّ هٰذَا لَشَیْئٌ عُجَابٌ" [ص:۵]

آیا ده دَ ټولو اٰلهو نه یو الٰه جوړ کړو؟ بیشکه دا خو ډیره دَ تعجب خبره ده ۔

یو بل ځائے کښے ارشاد دے:

"اِنَّهُمْ کَانُوْا اِذَا قِیْلَ لَهُمْ لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ یَسْتَکْبِرُوْنَ" [صافات:۳۵]

هر کله چه دوی ته اوئیلے شی چه دَ الله نه سوا هیڅوک اله نیشته نو هغوی دَ دے نه تکبر کوی یعنی نه ئے منی۔

دَ مکے دَ مشرکانو دَ کفر او شرک همدا وجه وه چه هغوی صرف یو الله الٰه نه منلو بلکه ورسره به ئے نور هم دَ الوهیت په صفاتو کښے شریکان ګنړل اګرچه هغوی به الله تعالیٰ دَ خپل ځان او دَ زمکے او اسمان خالق، مُدَبّر او رازق منلو۔

## ﴿دَ مشرکانو عقائد او اعمال﴾

''وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ'' [الزخرف:۸۷]

که چرے ته دَ دے مکے والا نه تپوس اوکړے چه تاسو چا پیدا کړی یئ نو ضرور به دوی اوائی چه الله تعالیٰ۔

دَ اسمان او زمکے په باره کښے دَ دوی عقیده وه چه:

''وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ'' [الزمر:۳۸]

که چرے ته دَ دے مشرکانو نه تپوس اوکړے چه زمکه او اسمان چا جوړ کړی دی نو ضرور به دوی اوائی چه الله تعالیٰ۔

همدغه شان دَ رزق او مرګ او ژوند وغیره مالک به ئے هم الله منلو :

''قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اَمَّنْ يَّمْلِكُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ ط فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهَ'' [یونس:۳۱]

ته دوئ نه تپوس اوکړه چه څوک رزق درکوی تاسو له دَ زمکے او اسمان نه یا څوک مالک دے دَ غوږونو او سترګو، او څوک

دے چه ژوندے دَ مړ نه اوباسی او مړ دَ ژوندی نه راؤباسی او ثوک دے
چه دَکارونو تدبیر کوی؟ نو دوی به ضرور گویا شی چه الله۔

دَ دے عقائدو نه علاوه مشرکانوبه عبادت هم کولو ، مونځ به
ئے هم کولو ۔ الله تعالیٰ فرمائی:

”فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّيْنَ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلاَتِهِمْ سَاهُوْنَ“ [الماعون: ٤، ٥]

هلاکت دے هغه مونځ گذارو دَ پاره ثوک چه دَ خپل مونځ نه
بے خبره دی۔

دا سورت مکی دے او په مکه کښے منافقان خو نه وو هلته
صرف مؤمنان او مشرکان وو او د سابقینو اولینو مسلمانانو مونځ خو
داسے نه وو چه الله تعالیٰ دَ وَیل لفظ سره دَ هغوی تردید فرمائیلے وے۔ په
دے وجه دا به تسلیمول وی چه دَ دے نه مراد هغه مشرکان دی چا به چه ثه
نه ثه رنگ کښے مونځ کولو او په هغے کښے به ئے غفلت کولو۔

شاه والی الله صاحبؒ فرمائی:

”وَكَانَتْ فِيْهِمُ الصَّلٰوةُ“ [حجة الله البالغه]

دَ عربو مشرکانو کښے دَ مونځ دستور موجود وو۔

همدغه شان هغوی به زکواة هم ورکولو ۔ الله تعالیٰ فرمان دے:

”وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ“ [الانعام: ۱۳۷]

او دوی مقرر کړے ده الله تعالی دَ پاره دَ هغه په پیدا کړی فصل
او ثاروو کښے یوه حصه، بیا وائی چه دا دَ الله حصه (یعنی زکواة) دے۔

شاه ولی اللهؒ فرمائی:

''وَكَانَتْ فِيهِمُ الزَّكٰوةُ'' [ حجة الله البالغه]

دَ عربو مشرکان دَ زکوٰة هم قائل وو۔

مشرکانو به دَ جومات او بیت الله تعمیر هم کولو۔

''مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا مَسَاجِدَ اللّٰهِ شٰهِدِيْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ'' [التوبه:۱۷]

دَ مشرکانو دا کار نه دے چه دَ الله جوماتونه آباد کړی هر کله چه هغوی تسلیموَی په خپل ځان باندے کفر۔

همدغه شان دَ حاجیانو دَ خوراک څکاک انتظام به ئے کولو او په هغوی باندے به ئے اوبه څکولے:

''اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ'' [التوبه: ۱۹]

(اے مشرکانو) آیا ګنړے دی تاسو حاجیانو باندے اوبه څکول او دَ مسجد حرام آبادول ، په شان دَ هغه چا چه یقین ئے دے په الله او په آخرت باندے ۔

دَ دے نه علاوه مشرکانو به حج هم کولو ۔ ابو جهل تقریبا **۵۳** حجونه کړی وو۔ مشرکان به په اعتکاف کښے کیناستل ،دجنابت غسل به ئے کولو ،ختنه (سنتونه) به ئے کول، دَ نامه لاندے ویښته به ئے اغستل او دَ آخرت او دَ تقدیر هم قائل وو۔[حجه الله البالغه]

مړی به ئے په قبرونو کښے خخول، دَ نکاح دا صحیح او مروجه

طریقه هم په هغوی کښې رائجه وه ۔ [بخاری]

مختصر دا چه نور هم ډیر عبادات او ښه عادتونه په هغوی کښې موجود وو دَ کومو تفصیل چه په احادیثو او دَ عالمانو په کتابونو کښې موجود دے۔

اوس سوال دا پیدا کیږی چه هر کله دَ عربو مشرکانو الله منلو چه هغه خالق،رازق او مدبر دے ۔ مونځ ، زکواة،صدقات ، نکاح او نور هم ښه خویونه په هغوی کښې موجود وو نو بیا ولے هغوی مشرکان وو۔ په هغوی کښې څه خرابی وه چه الله او رسول ﷺ هغوی ته مشرک اووے؟ دَ دے علت او سبب څه دے؟

جواب دا دے چه دَ قرآن دَ بیان مطابق هغه خرابی او دَ هغوی دَ مشرک والی علت دا وو چه هغوی دَ الله سره سره نور مخلوق هم اله منل او دَ هغوی عبادت به ئے هم کولو ، کله دَ رکوع او سجدے په شکل کښې نو کله دَ طواف او نذر و نیاز په شکل کښې او کله دَ غائبانه رابللو په شکل کښې،څنګه چه زمونږ دَ زمانے مشرک او جاهل عوام یو طرفته خو الله خالق او رازق منی لیکن بل طرفته دَ الله مخلوق انبیا او اولیاء دَ الله حصه دار او نائبان منی او دَ هغوی عبادت کوی۔ دوی دَ هغوی ارواح حاظر او ناظر، عالم الغیب ، متصرف او ورکوونکی اخستونکی منی او هغوی غائبانه رابلی ، دَ هغوی په قبرونو او مزارونو باندے رکوع او سجده کوی ، دَ هغوی دَ نوم نذر او منختے ورکوی ۔ یعنی یو طرفته خو الله منی لیکن بل طرفته شرک هم کوی

، دَ کلمے لوستلو او ایمان راؤړلو سره سره مشرکان هم وی ۔ همدے قسمه خلقو په باره کښے دَ قرآن ارشاد دے:

”وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ مُشْرِكُوْنَ“ [یوسف:۱۰٦]

اکثر خلق ایمان سره سره شرک هم کوی ( ایمان سره سره مشرکان هم وی) داسے ایمان او عبادت چه شرک سره خلط وی ، کوم کښے چه دَ غیر الله دَ عبادت ګډون وی، دَ الله په نزد قبول نه دے ۔ ایمان هغه قبول دے دَ کوم مطالبه چه ابراهیم علیه السلام او دَ هغوی ملګرو دَ قوم نه کړے چه ذکر ئے په سوره الممتحنه :۴ کښے دے:

”قَدْ كَانَتْ لَكُمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيْ اِبْرَاهِيْمَ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ ج اِذْ قَالُوْا لِقَوْمِهِمْ اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ اَبَدًا“

اے خلقو! تاسو دَ پاره دَ ابراهیم علیه السلام او دَ هغه په ملګرو کښے یوه بهتره نمونه ده ، هر کله چه هغوی دَ خپل قوم خلقو ته اوے چه زمونږ تاسو سره او هغو سره دَ چا چه تاسو ( دَ الله عبادت سره سره) دَ الله نه سوا عبادت کوئ ، هیڅ تعلق نشته مونږ ستاسو دَ معبودانو قائل هم نه یو ۔زمونږ او ستاسو په مینځ کښے دَ همیشه دَ پاره ډاګه په ډاګه عداوت او دشمنی به وی۔

دا عدوات او دشمنی به ترکومه پورے وی؟ ”حَتّٰى تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ“

ترڅو پورے چه یوائے په یو الله باندے ایمان راؤ نه ړئ۔

او عبادت هم دَ الله په نزد هغه قبول دے په کوم کښے چه دَ غیر الله دَ عبادت شرکت نه وی ،دَ کوم باره کښے چه دَ الله تعالیٰ ارشاد

دے: "وَاعۡبُدُوا اللّٰهَ وَلاَ تُشۡرِكُوۡا بِهٖ شَيۡـًٔا" [النسآء: ۳۶]

او دَ الله داسے عبادت کوئ چه پکښے هیڅوک هم شریک نه کړے شی ۔ یعنی هغه عبادت قبول نه دے کوم چه انسان ئے دَ الله دَ پاره هم کوی او دَ الله نه سوا غیر الله دَ پاره ئے هم کوی۔

بهر حال په دنیا کښے داسے مشرکان نه دی تیر شوی یا که چرے وے نو غالبا ډیر کم به وی دَ چا چه عقیده دا وی چه دَ دنیا پیدا کوؤنکے او چلوؤنکے دَ الله نه سوا بل څوک دے یا الله سره بل څوک حصه دار او شریک پیدا کوؤنکے او چلوؤنکے دے ۔ بلکه دَ قرآن تر مخه دَ هغوی شرک دا دے چه هغوی الله تعالیٰ لره دَ ټول کائنات خالق او مالک او مدبر او منتظم یعنی دَ دے هستئی دَ پوره کارخانے چلونکے منلو باوجود بیا وائی چه کومے هستیانے انبیاو اولیاء ، پیریان او ملائکے،پیر او فقیر مونږ رابلو او عبادت ئے کوؤ هغوی اګر چه دهمدے الله پیدا کړده دی او دَ هغه بندګان دی لیکن دَ هغوی الله سره داسے خاص تعلق او تقرب دے چه دَ هغے په وجے سره هغوی ته څه جزوی اختیارات حامل دی ۔ که چرے هغوی اوغواړی نو چا له څه ورکولے شی یا دَ هغوی نه اخستلے شی ، چا لره امیر او چا لره غریب او فقیر جوړولے شی، که چرے اوغواړی نو چا لره بیماری ،تندرستئی،شفا او اولاد ورکولے شی ، په همدے بناء باندے دَ عربو مشرکانو هم او موجوده مشرکان هم هغوی لره راضی او خوشحاله ساتلو دَ پاره دَ هغوی عبادت کوی ، نذرونه او منختے ئے منی ، شکرانے پرے اچوی ،

په خپلو ضرورتونو او حاجتونو کښې هغوی رابلي او مدد ترې غواړي او دَ هغوی نه چاپیره طواف کوي ۔ قرآن پاک دَ دوی همدغه خیال او طرزِ عمل شرک اوګرځولو ۔ لیکن مشرکان خپل دې شرک ته شرک نه وائي۔ دَ مشرکانو دَ دې شِرکي حالت نقشه مولانا الطاف حسین حالي په مدوجزر اسلام ( مسدسِ حالي) کښې په ډیر بهترین انداز کښې داسې پیش کړې ده:

کرے غیر گر بت کی پوجا تو کافر — جو ٹھہرائے بیٹا خدا کا تو کافر
کہے آگ کو اپنا قبلہ تو کافر — کواکب میں مانے کرشمہ تو کافر

مگر مؤمنوں پر کشادہ ہیں راہیں
پرستش کریں شوق سے جس کی چاہیں

نبیؑ کو جو چاہیں خدا کر دکھائیں — اماموں کا رتبہ نبیؐ سے بڑھائیں
مزاروں پہ دن رات نذریں چڑھائیں — شہیدوں سے جا جا کے مانگیں دعائیں

نہ توحید میں کچھ خلل اس سے آئے
نہ اسلام بگڑے نہ ایمان جائے

یعني که چرې غیر خلق دَ بت عبادت کوي نو کافر وي ۔ که چرې خدائې لره ځوک ځوې نیسي نو کافر وي ، که چرې اور ته خپله قبله وائي نو کافر وي، که په ستورو کښې کرشمې مني نو کافر وي ۔ لیکن ( عجیبه خبره ده چه) په مؤمنانو باندې دَ دې لارې کالاؤ دي، چه دَ چا عبادت کول غواړي نو په شوق سره ئې کوي ۔ که چرې غواړي نو نبي له دَ خدائې درجه ورکړي، او دَ امامانو رتبه دَ نبي ﷺ نه هم زیاتوَي

(لکه شیعه ګان او بریلیان) په مزارونو باندے شپه ورځ منختے اچوی، شهیدانو له ځی او دعا ګانے ترے غواړی ـ نه خو دے سره په توحید کښے څه خلل راځی، نه اسلام کښے فرق راځی او نه ایمان کښے خرابی راځی؟ په دے بنا باندے دَ اکثرو قومونو او ملکونو مشرکانو کښے همدا شرک راروان دے ـ په همدے وجه قرآن کښے دَ دے رد زیات کړے دے ـ ارشاد دے:

''وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖ اٰلِهَةً لَا يَخْلُقُوْنَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُوْنَ وَلَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا وَلَا يَمْلِكُوْنَ مَوْتًا وَلَا حَيٰوةً وَّلَا نُشُوْرًا'' [الفرقان:۳]

او دے مشرکانو دَ الله نه سوا داسے معبودان جوړ کړی دی چه هیڅ خیز هم نشی جوړولے او هغوی پخپله دَ الله پیدا کرده دی (لا دَ نورو به څه ذکر وی) او په خپل نفع او نقصان باندے هم دوی ته هیڅ اختیار نیشته او نه دَ دے دنیا په مرګ ژوند باندے او نه په حیات بعد الموت باندے دوی ته څه اختیار شته ـ (یعنی دَ دوی په قبضه او اختیار کښے هیڅ هم نیشته)ـ یو بل ځائے کښے ارشاد دے:

''قُلِ ادْعُو الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ج لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِى السَّمٰوٰتِ وَلَا فِى الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِنْ ظَهِيْرٍ'' [سبا: ۲۲]

دے مشرکانو ته اوایه چه تاسو راؤبلئی هغه خلق چه تاسو ئے مالکان او مختار ګنړئ سوا دَ الله نه ـ هغوی دَ یوے ذرے هم مالکان نه دی، نه په اسمانونو کښے او نه په زمکه کښے او نه په آسمانونو او زمکه کښے دَ دوی څه حصه ده او نه په دوی کښے څوک دَ الله معاون دے ـ

☆☆☆

## ﴿دَ مشركانو دَ بتانو حقيقت﴾

دلتـه كـه چرے دَ چا په ذهن كښے شبه پيدا شي چه شايد عربو مشركانو چه دَ چا عبادت كولو او رابلل ئے هغه بتان او كانړي وو لهذا دَ دغـه بت پرستئى په وجه به هغوى مشركان شوى وى، او موجوده خلق خو نيـكو هستو ، انبياؤ او اولياؤ ته چغے وهى او تعظيم ئے كوى۔ دے وجهے نه دا به شرک نه وى۔

اصـل حقيقت دا دے چه په دنيا كښے هيڅ يو قوم داسے نه دے تيـر شوے چا چـه مـحـض دَ لـرگي ، كانړي او خختے پے جانه جُوسو نه خدائے يا اله جوړ كړے وى او دَ هغوى عبادت ئے كړے وى ، بلكه كله هم چـه يـو بـت ، تـصوير يا مجسمه جوړه شوے دے نو دَ يو جاندار مخلوق بلكه دَ پيغمبرانو ، اولياؤ او نيكانو بندگانو په نوم او شكل باندے جوړه شوے ده ۔ هـغـه خـلـقـو بـه دغـه شكلونه او بتان اصلي معبودان هم نه گنړل ، گينى بيا خو دا پكار وو چه مشركانو دَ هر كانړي چه چرته به ئے ليـدلـو،عبادت بـه ئے دَ هغے كولو ، حالانكه داسے نه ده ۔ ولے دا څنگه كيدے شي چه يو عام من دوه منه لرگے يا كانړے ، حاجت روا او مسجود نشـي جـوړيـدے ليـكـن كله چه هغه كټ كړي اووے تراشي مجسمه ترينه جـوړه كړي بيا دے ورلره ورته هر څه كوى؟ خبره په اصل كښے داسے ده چه بـغيـر تـراشـلـو او مجسمه جوړولو په كانړي او لرگي كښے دَ هغه هستئى غـوندے سترگے، پوزه او غوږونه وغيره نه وى ليكن كله چه په دغه شكل باندے صنم جوړ كړي نو بيا دَ هغه عبادت او تعظيم شروع شي۔

دے دَ پاره اصل عقیدت او محبت لرگی یا کانړی سره نه، بلکه انسان او نیکے هستئی وغیره سره دے۔ غرض دا چه دَ مشرکانو دا مشرکانه عقیده او مشرکانه عمل دغه بزرگ روحونو او هغه روحانی هستو سره وو چا ته چه دَ کانړی دا بتان منسوب وو۔ بیا شیطان دَ چا په ذهن کښے دا واچوله چه هغه هستئی به تاسو ته په دے تراشلی شوی کانړی یا دَ لرگی په مجسمه کښے ملاویږی او چا ته ئ په قبر کښے دَ ملاویدو خبره ذهن کښے واچوله نو چا ته بل څیز۔

؎ کسی کو بت پرستی ہے سکھاتا کسی کو ہے وہ قبروں پر جھکاتا
مسلمانوں کو دیکھا اس سے پُر بیم انہیں قبروں کی کی ظالم نے تعلیم

دَ قرآن په سوره نوح:۲۳ کښے چه دَ قومِ نوح علیه السلام کومو پنځو اِلاهانو وُدُ، سُواع، یَغوث، یَعوق او نسر ذکر راغلے دے۔ دَ دے اِلاهانو په باره کښے بخاری کښے دی چه دا دَ حضرت نوح علیه السلام دَ زمانے نیک او صالحان انسانان وو دَ کومو چه به عبادت کولے شو۔ بعضو وئیلی دی چه دا دَ حضرت ادریس علیه السلام ځامن وو او دَ بعضو قول دے چه وَد حضرت شیث علیه السلام ووا و باقی څلور دَ هغه ځامن وو وغیره گویا دا دَ حضرت نوح علیه السلام دَ زمانے پنځه پیران وو لکه نن صبا هم عموما په هره علاقه کښے پنځه پیران وی۔ شیخ الاسلام ابن قیمؒ فرمائی: ”قَالَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ السَّلَفِ كَانَ هٰؤُلآءِ قَوْمًا صَالِحِيْنَ فِيْ قَوْمِ نُوْحٍ فَلَمَّا مَاتُوْا عَكَفُوْا عَلٰى قُبُوْرِهِمْ ثُمَّ صَوَّرُوْا تَمَاثِيْلَهُمْ ثُمَّ طَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَعَبَدُوْهُمْ“ [اغاثة اللهفان]

دَ اکثرو سلفو حضراتو بیان دے چه دا پنځه حضرات دَ حضرت نـوح عـلیـه السـلام دَ قـوم نیـکـان خلق وو کله چه هغوی وفات شو نو خـلـقـو دَ هـغـوی په قبرونو باندے منجاوری اختیار کړه ، بیا ئے دَ هغوی تـصـویرونه او مجسمے جوړے کړے بیا کله چه کافی زمانه تیره شوه نو دَ هـغـوی عبادت ئے شروع کړو۔ همدغه شان دَ عربو مشرکانو هم چه دَ کـو مـو بتـانو عبادت کولو هغه به دَ روحانی هستو نخښے او یادګارونه ګـنـړلے کیـدل او عبـادت بـه پـه اصل کښے دَ همدغـه روحانی هستو کیدلو او هغوی به حاجت روا او مشکل کشا ګنړلے کیدل۔

پـه هـغـے کښے یو لات وو ۔ دَ بخاری دَ قول مطابق دا یو نیک سړے وو چه حاجیانو له به ئے ستوان خوشتول او ورباندے به ئے څکول ، دَ هغه په نوم باندے دغه بت جوړ کړے شوے وو۔

کشفِ ظلام په حواله راهِ سنت کښے دی چه:

"رَجُلٌ يَلِتُّ بِالسَّوِيْقِ بِالطَّائِفِ وَكَانُوْا يَعْكُفُوْنَ عَلٰى قَبْرِهٖ فَجَعَلُوْهُ وَثَنًا"

لات یـو سـړے وو چـه طـائف کښے به ئے خلقو ته په اوبو کښے ستـوان خـوشتول او ورباندے به ئے څکول ۔نو دَ هغه په نوم دا بت جوړ کړے شو۔ ابن کثیر دَ لات حقیقت بیانوی ، لیکی:

"فَلَمَّا مَاتَ عَكِفُوْا عَلٰى قَبْرِهٖ فَعَبَدُوْهُ"

کـلـه چـه لات وفـات شـو نو خلقو دَ هغه په قبر باندے اجتماع شروع کړه او دَ هغه عبادت ئے شروع کړو۔

هـمـدغـه شان دَ هغوی بت منات هم انسان وو ۔ یو بُت هُبُل وو

کوم چه په اصل کښې دَ آدم علیه السلام ځوے هابیل وو چا لره چه خپل رور قابیل شهید کړے وو، مشرکانو دَ مصیبت په وخت کښې خاص طور سره دَ جنګ په موقع باندے دے رابللو او دَ ده نه به ئے مدد غوښتلو [ بخاری] دَ ده مجسمه په کعبه کښې پرته وه ۔ همدغه شان غزیٰ یو ښاپیرئ وه چه دَ هغے عبادت به کیدلو دَ دے نه علاوه دَ کعبے درے سوه شپیته (۳٦۰) بتانو کښې دَ ابراهیم علیه السلام ، اسماعیل علیه السلام او بی بی مریمے علیها السلام مجسمے هم پرتے وے ، هشامؓ بن عاص الاموی نه منقول یو روایت کښې دی چه هغوی په دمشق کښې شاهی تحویل کښې پادریانو سره دَ حضرت آدم،نوح،ابراهیم ، موسیٰ، هارون ، لوط، اسحاق ،یعقوب،اسماعیل،یوسف،داؤد،سلیمان،عیسیٰ علیهم السلام او دَ حضرت محمد ﷺ تصویران او فوتوان لیدلی وو ، کله چه دویٔ هلته دَ سفیر او قاصد په طور تشریف اوړے وو۔ [ابن کثیر]

همدغه حال دَ هندوانو دَ بتانو هم دے چه هغوی دَ کرشن جی او رام چندر جی وغیره دَ بُت عبادت کوی ، نو عبادت دَ دغه بت مقصود نه وی بلکه دَ کرشن جی او راند چندر جی وغیره شخصیتونو عبادت او احترام مقصود وی او دَ هغوی چه دے بتانو سره کوم تعلق هم دے هغه دَ دوی دے مذعومه بزرګانو دَ عقیدت په وجے سره دے ۔ دَدے حقیقت اظهار دَ هغوی اهلِ فهم او اهلِ انصاف پخپله هم کوی چه زمونږ صرف دَ پتیلو ، لرګی او کانړی بے جان مجسمه سره هیڅ لګاؤ

او محبت نیشته بلکه دا زمونږ دَ مذهبی او سیاسی بزرګانو بُتان دی۔ مختصر دا چه هغوی به صرف دَ کانړی بتان خپل اصلی معبودان نه ګنړل بلکه هغوی به دَ بزرګانو روحونه او روحانی هستیانے دَ نفعے او ضرر اختیار مند او حاجت روا ګنړل او په اصل کښے به ئے دَ هغوی عبادت کولو او هغوی به ئے رابلل او بتان به ئے صرف دَ هغوی نخښے یا دَ هغوی جلوه ګاه ګنړل۔

لیکن افسوس چه همدا حال نن دَ ډیرو دَ نوم دَ مسلمانانو ، جاهلو تعزیه پرستو ، قبر پرستو او پیرپرستو هم دے چه دا تعزیه پرست په دے تعزیه کښے هیڅ غیبی طاقت نه ګنړی بلکه دا هر څه دَ امام حسین رضؓ په نوم باندے کوی ، او قبر پرست هم دَ دینی بزرګانو متعلق همدا قسمه عقیده لری او په همدے بنا باندے دَ هغوی دَ قبرونو او تعزیو په وړاندے تیتیږی، نذرونه پرے اچوی او هغوی لره غائبانه رابلی ۔ غرض دا چه دا بالکل هم دَ بت پرستو خلقو منطق دے۔ همدے دَ پاره خو الله تعالیٰ په قرآن پاک کښے فرمائیلی دی:

”اِنَّ الَّذِیۡنَ تَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰہِ عِبَادٌ اَمۡثَالُکُمۡ“ [الاعراف: ۱۹٤]

بیشکه کومے هستیانے (پیغمبران او بزرګان) چه تاسو رابلئی دَ الله نه سوا، هغوی خو ستاسو پشان (زمونږه عاجزه) بندګان دی۔

چونکه دَ شیطان دَ پاره دا خبره ډیره مشکله وه چه هغه دَ کلمه لوستونکی خلق دَ بتانو دَ عبادت په ذریعه په شرک کښے مبتلا کړی ، ولے چه په دغه محاذ باندے هغه داسے شکست خوړلے وو چه دَ هغه

دوباره سر راپورته کول تقریبا مشکل وو ۔ دے دَ پاره هغه طریقه بدله کړه او دَ بزرګانو دَ بتانو او مجسمو په ځاے قبرونو سره ئے هم هغه عقیدت په خلقو شروع کړو کوم چه ئے مخکښے دَ هغوی بتانو او مجسمو سره ډیر ځلے کړے وو۔

امام فخر الدین رازیؒ فرمائی چه:

"اِنَّهُمْ وَضَعُوْا هٰذِهِ الْاَصْنَامَ وَالْاَوْثَانَ عَلٰی صُوَرِ اَنْبِيَآءِ هِمْ وَاَكَابِرِهِمْ وَزَعَمُوْا اَنَّهُمْ مَتٰی اِشْتَغَلُوْا بِعِبَادَةِ هٰذِهِ التَّمَاثِيْلِ فَاِنَّ اُوْلٰٓئِكَ الْكَبَائِرَ تَكُوْنُوا شُفَعَآءَ لَهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ تَعَالٰی وَنَظِيْرُهٗ فِیْ هٰذَا الزَّمَانِ اِشْتِغَالُ كَثِيْرٍ مِنَ الْخَلْقِ بِتَعْظِيْمِ قُبُوْرِ الْاَكَابِرِ عَلٰی اِعْتِقَادِ اَنَّهُمْ اِذَا عَظَّمُوْا قُبُوْرَهُمْ فَاِنَّهُمْ يَكُوْنُوْنَ شُفَعَآءَ لَهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ تَعَالٰی" [تفسیر کبیر]

یعنی دغه مشرکانو دا اصنام او بتان دَ خپلو پیغمبرانو او بزرګامو په شکلونو باندے جوړ کړی وو ، او هغوی دا خیال کولو چه کله مونږ دَ دے بتانو په عبادت کښے مشغول یو نو دا مشران او بزرګان زمونږ په حق کښے الله تعالیٰ ته سفارش کوی ۔ او دَ دے مثال په دے زمانه کښے دا دے چه ډیر خلق دَ بزرګانو دَ قبرونو تعظیم دَ دے عقیدے لاندے کوی چه په دے طریقے سره دغه بزرګان الله تعالیٰ ته زمونږه سفارش کوی۔

نو دَ شرک ابتداء دَ بزرګانو او ولیانو دَ قبرونو ، دَ هغوی عبادت ګاهونو او دَ ناستے پاستے ځایونو نه شوے ده ۔ دے دَ پاره نبی کریم ﷺ دَ قبر پرستئی نه په زوردارو الفاظو کښے خپل امت منع کړو او وے فرمائیل چه په یهودو او نصاراؤ دِ دَ الله تعالیٰ لعنت وی چه هغوی دَ خپلو پیغمبرانو قبرونه سجده ګاه جوړ کړل ، او دعا ئے هم اوفرمائیله:

"اَللّٰهُمَّ لاَ تَجْعَلْ قَبْرِیْ وَثَنًا یُعْبَدُ"

اے الله! زما قبر بُت مه جوړوے چه عبادت ئے کؤلے شي۔

او دا تهول ئے دے دَ پاره اوفرمائیل چه دَ حضور ﷺ امت چرته داسے اونه کړی ځنګه چه یهودو او نصارؤ کړي وو ۔ دَ دے ارشاد باوجود هم نااهلو امتیانو دَ خپلو دنیاوی اغراضو او کاروبار دَ خاطره دَ قبر پرستئی سلسله جاری ساتلے ده ۔ په قول دَ اقبال:

جن کو آتا نہیں دنیا میں کوئی فن تم ہو

نہیں جس قوم کو پروائے نشیمن تم ہو!

بجلیاں جس میں ہوں آسودہ وہ خرمن تم ہو

بیچ کھاتے ہیں جو اسلاف کے مدفن تم ہو!

ہوں کو نام جو قبروں کی تجارت کر کے

کیا نہ بیچو گے جو مل جائیں صنم پتھر کے [جواب شکواہ]

## ﴿شفاعت﴾

لیکن مشرکینو قبر پرستو او پیر پرستو وغیرو دَ دے خپلو شرکی عقائدو او اعمالو صحیح او جائز ثابتولو دَ پاره مختلف قسم حیلے بهانے پیش کولے او قسما قسم قیل و قال نه به ئے کار اخستلو او موجوده مشرکان او جاهلان هم اخلی۔ کله وائی چه مونږه خو شرک نه کوؤ او نه دوی خالق ، رازق او خدائے منو ، بلکه دا خو واسطے دی ځوک چه زمونږه کارونه او حاجتونه الله ته وړاندے کوی زمونږه سفارشیان او وکیلان دی ، مونږ دوی ته وایو او دوی مونږ دَ پاره الله

تعالیٰ ته سفارش کوی او خپله خبره په الله باندے منی ( نعوذ بالله) چه الله تعالیٰ دَ دوی خبره نه غورزَوی بلکه منی ئے۔

شاه اسماعیل شهید دَ سوره المؤمنون آیت:۸۸ لاندے لیکی:

''دَ دے آیت نه معلومه شوه چه دَ پیغمبرِ خدا ﷺ دَ وخت کافران هم دَ دے خبرے قائل وو چه هیڅوک دَ الله برابر نیشته او دَ هغه مقابله نشی کولے لیکن خپل بُتان به ئے دَ هغه په جناب کښے وکیلان ګنړل او منل ، همدے سره کافران شو۔ نو اوس هم چه دَ یو مخلوق دَ پاره په عالم کښے تصرف ثابت کړی او خپل وکیل ګنړلو سره ئے اومنی نو په دے باندے هم شرک ثابتیږی، اګر که دَ الله برابر ئے نه ګنړی او دَ هغه دَ مقابل طاقت هغه له ثابت نه کړی۔''[تقویة الایمان:۵۲]

قرآن پاک کښے هم الله تعالیٰ دَ دے باطل ګمان تذکره کوی ، فرمائی:

''وَيَعۡبُدُونَ مِنۡ دُونِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنۡفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَاءُنَا عِنۡدَ اللّٰهِ ط'' [یونس:۱۸]

او دوی دَ الله نه سوا دَ هغه چا عبادت کوی څوک چه نه دوی ته نقصان رسولے شی او نه ورته فائده رسولے شی او دوی وائی چه دا خو دَ الله په وړاندے زمونږه سفارشیان دی۔

الله تعالیٰ په دے باندے رد کولو سره بل ځائے کښے فرمائی:

''قُلۡ لِلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا ط'' [الزمر:٤٤]

ته (دوی ته) اووایه چه دَ سفارش اختیار خو ټول الله سره دے۔

یعنی دَ الله دَ حکم او اجازت نه بغیر هیڅوک دَ چا سفارش نشی کولے۔

**شفاعت په دوه قسمه د ے :**

یو شفاعتِ قهری یعنی په زور او دَ اجازت نه بغیر شفاعت او دویم شفاعتِ اذنی یعنی دَ الله په اجازت سره۔

چونکه مشرکان دَ قهری شفاعت قائل دی چه هغوی زمونږه شفاعت کولے شی ، الله باندے خپله خبره منلے شی ( نعوذ بالله ) نو الله تعالیٰ دَ دے باطل خیال تردید په دے آیت کښے اوکړو چه بغیر دَ اجازت نه په زبردستئی سره هیڅوک سفارش نشی کولے ۔ باقی پاتے شو شفاعتِ اذنی نو هغه هم په څو شرطونه سره مشروط دے :

**اول:** دا چه سفاعت کوؤنکی ته دَ الله دَ طرفه اجازت وی:

"مَنْ ذَاالَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗ اِلَّا بِاِذْنِهٖ" [البقرہ:۲۵۵]

دَ الله تعالیٰ اجازت نه بغیر هیڅوک هم سفارش نشی کولے۔

**دویم:** چا دَ پاره چه شفاعت کولے شی هغه پخپله هم موحِد مسلمان وی ، مشرک او کافر دِ نه وی۔

"وَلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ" [البقرہ:۱۲۳]

او دغه ( مشرک) نفس ته به دَ سفارش فائده نه ملاویږی ( ولے چه هغه به مشرک وی) ۔ په حدیث کښے هم دی نبی کریم ﷺ فرمائی: "شَفَاعَتِیْ لِمَنْ لَّمْ یُشْرِكْ بِاللّٰهِ شَیْئًا" [ترمذی]

زما شفارس هغه چا دَ پاره دے چا چه شرک نه وی کړے۔

په یو بل روایت کښے دی چه زه سفارش کوم لیکن : لِاَهْلِ الْکَبَائِرِ مِنْ اُمَّتِیْ" دَ خپل گنهګار امتیانو دَ پاره۔

**دریم**: دا هم ضروری ده چه دَ مشفوع له (دچا سفارش چه کول وی) په حق کښې دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه دَ سفارش کولو اجازت هم وی که چرے څوک دَ ده په حق کښې سفارش اوکړی نو زه (الله تعالیٰ) به ئے قبول کړم۔

**څلورم**: دَ نبی کریم ﷺ نه مخکښې څوک هم شفاعت نشی کولے ، مخکښې به نبی کریم ﷺ شفاعت شروع کوی بیا به باقی انبیاو او اولیاء شهیدان او عالمان وغیره، ولے چه دَ نبی کریم ﷺ ارشاد دے چه :

"اَنَا اَوَّلُ مَنْ یَشْفَعُ" یعنی اول سفارش کوؤنکے زه یم۔

دَ دے شرط تر مخه او سه پورے قیامت قائم شوے نه دے ، او نه نبی کریم ﷺ شفاعت شروع کړے دے ، او دے مشرکانو او بدعتیانو خلقو په دنیا کښې دَ قیامت او دَ نبی کریم ﷺ دَ شفاعت نه مخکښې دَ نورو خلقو سفارش شروع کړے دے ، کله وائی چه مونږ دَ دوی دَ نوم نذرونیاز ، دَ دوی په وړاندے رکوع او سجده او تعظیم دے دَ پاره کوؤ چه دا زمونږه وسیلے دی ، دوی دَ الله په نزد دَ تقرب او نزدے والی ذریعه ده ، او مونږ ګنهګار یو ، الله زمونږه نه اوری او دوی ښه عملونه کړی دی دوی دَ الله مقرب دی مونږ دَ دوی اعمال وسیله کوؤ او الله ته ئے پیش کوؤ ۔ او همدا خبره به مشرکانو هم کوله ۔

"مَا نَعۡبُدُهُمۡ اِلَّا لِیُقَرِّبُوۡنَاۤ اِلَی اللّٰهِ زُلۡفٰی" [الزمر:۳]

مونږ دَ دوی عبادت نه کوؤ مګر دے دَ پاره چه دوی مونږه الله ته نزدے او قریب کړی ۔ دوی مونږ دَ پاره دَ الله په نزد دَ تقرب ذریعه ده) الله تبارک و تعالیٰ یو ځائے کښې دَ دے خبرے رد کولو سره فرمائی:

”تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ج لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ ج وَلاَ تَسْئَلُوْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ“ [البقره: ۱۳٤]

کـه چـرے ستاسو دا خيال وی چه دوی دَ الله په نزد مقرب دی ، دوی نيـک عـملونه کړی دی ، محنتونه کړی دی او مونږ گنهگار يُو ،نو مونږ دَ دوی عملونه دَ الله په وړاندے وسيله جوړوؤ۔

نـه نـه! دا ټول دَ انبياؤ او صالحانو يوه ډله وه چه تيره شوے ده او دَ دوی دَ اعـمالـو بـدله به همدوی ته ملاويږی او تاسو ته به خو ستاسو د اعمالو بدله درکړے کيږی، او تاسو نه به دَ دوی دَ عملونو په باره کښے تپوس نه کيـږی۔ ( چـه تـاسـو دَ پاره دَ نـجات ذريعـه جـوړ شی بلکه تاسو نه به ستاسو دَ اعمالو تپوس کيږی)

**حديث کښے هم راځی:** چـه کـوم سـړی لـره خپـل عـمل بچ نه کړی ، خپـل عـمـل ئـے پـکـار رانشـی نـو هغه لره خپل نسب ( يعنی دَ نيکانو پـلارونـو ،نيکونو ) عمل بچ کولے نشی، دَ هغوی نيـک عملونه دَ نورو په کار نشی راتلے۔

دَ هـر سـړی خپـل عـمـل دے ، که هغوی محنتونه کړی دی نو خپـل ځـان دَ پـاره ئـے کـړی دی نـه چـه تـاسو دَ پاره ۔ کلـه مشرکـان او بـدعتيـان خلق مثالونه پيش کوی چه څرنګ خلق يو جج دَ پاره وکيل نيسی ، يو بادشاه دَ پاره وزير وی ، وکيل نه بغير جج سره او وزير نه بغير بـادشـاه سره ملاقات او خبره نشی کيدے او دَخپلو حالاتو نه ئے خبروئے نشـی همدغه شان الله تعالیٰ دَ پاره هم دَ وکيل ،وزير او وسيلے ضرورت

دے ۔ الله تعالیٰ فرمائی چه تاسو ما په مخلوق باندے قیاس کوئ :
''فَلاَ تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْاَمْثَالُ ط اِنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لاَ تَعْلَمُوْنَ'' [النحل: ۷٤]

الله تعالیٰ دَ پاره خپل مثالونه مه بیانوی ۔ (ولے چه)الله تعالیٰ پو هیږی او تاسو (مخلوق) نه پو هیږی۔

ولے چه الله تعالیٰ علیم بذات الصدور دے ، دَ هر چا دَ حال نه خبر دے، په دے وجه الله تعالیٰ دَ پاره دَ وکیل ، وزیر او مشیر ضرورت نیشته ، او جج او بادشاه چونکه مخلوق دے ، عالم الغیب نه دی ، دَ چا دَ حال نه خبردار نه دی ، په دے وجه هغوی دَ پاره دَ وکیل او وزیر ضرورت وی ، دَ پاره دَ دے چه دَ وکیل او وزیر په ذریعه هغوی ته خپل حال احوال اورسولے شی۔ الله تعالیٰ لره په مخلوق باندے قیاس کول دَ حَد درجے حماقت او ضلالت دے ولے چه هغه خو عالم الغیب دے ، د ټول مخلوق دَ حال نه خبردار دے ، هغه ته دَ وکیل څه ضرورت دے۔

همدغه شان دا خیال هم باطل دے چه مونږ ګنهګاریو او دَ ګنهګارو الله نه اوری، ځکه مونږ دَ نورو ( فضلاؤ صلحاؤ) وسیلے لټوؤ۔ الله تعالیٰ فرمائی هر ګز نه۔

''نَحْنُ اَقْرَبُ اِلَیْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِیْدِ'' [ق: ۱٤]

زه خود انسان شه رګ نه هم زیات هغه ته نزدے یم ۔

په دے وجه دَ پښتو مشهور شاعر عبدالرحمان بابا وائی:

څه حاجت دے چه دَ بل په در کښے غواړم ـ

په خپل کور کښے همکنار دے رب زما

مـاله دَ چا دَر ته دَ تللو څه ضرورت دے هر کله زما په کور کښے زما رب ماسره نزدے شته۔

ځکه الله فرمائی: "اُدۡعُوۡنِیۡ اَسۡتَجِبۡ لَكُمۡ" [مؤمن: ٦٠]

ما رابلئی ، زه ستاسو دعا قبلوم۔

پـه دے آیت کښے دَ ګنهګار او غیر ګنهګار هیڅ امتیاز نیشته بـلکه آیت مطلق دے ۔ او بله خبره دا چه دَ شیطان نه څوک غټ فاسق، کـافـر او ګـنهګار نشي کیدے بیا هم چه کله دَ لعنتی کیدلو نه پس الله تعالیٰ نه دعا غواړی چه:

"قَالَ رَبِّ فَاَنۡظِرۡنِیۡ اِلٰی یَوۡمِ یُبۡعَثُوۡنَ" [الحجر: ٣٦]

شیـطـان اووے اے ربه! ته ماله تر هغه ورځے پورے مهلت راکړه چه مړی به ژوندی کیږی۔ نو الله دَ هغه دعا قبوله کړه۔

"قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الۡمُنۡظَرِیۡنَ" [الحجر: ٣٧]

الـلـه تـعـالـیٰ ورتـه اوفـرمائیل چه تاله مهلت درکړے شو (ترمقرر وختـه پـورے) هـر کله چه دَ شیطان دعا قبلیږی نو آیا څوک دَ شیطان نه هـم زیـات ګـنهګار شته ، چه دَ هغه دعا به الله نه اووری او قبوله به ئے نه کـړی؟ هـرګـز داسے نه ده ۔ بلکه الله تعالیٰ دَ هر چا اوری او دعا قبلوی ، هر کله چه دعا حقیقی وی او په خپلو شرطونو باندے پوره وی۔

هـاؤ وسیله په اعمالو صالحاؤ بیشکه صحیح ده چه یو انسان خپـل اعـمـال صـالـحـه ، ایـمان او نور نیـک خصلتونه دَ الله په وړاندے وسیـلـه جـوړ کـړی او دعــا اوغـواړی نـو دا جائز دی ، دَ قرآن او سنت او

سلفونه منقول دی۔ په قرآن کښے ارشاد دے:

"یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِیْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ" [البقره:۱۵۳]

اے مؤمنانو! الله نه دَ صبر او مونځ په ذریعے (وسیلے) سره مدد غواړئ۔ همدغه شان په ډیرو احادیثو کښے هم دَ دے قسمه وسیلے بالاعمال الصالحه تذکره موجود ده چه دَ هغے مثالونه مونږ دَ خبرے اوګدیدلو دَ ویرے نه پریښی دی۔ دَ شفاعت او وسیلے تفصیل دَ بنده رساله "**شفاعت اور وسیلے کی حقیقت**" کښے کتلے شئی۔

دا خو مونږه دَ خپل قاصر فهم مطابق دَ قرآن ، حدیث او دَ علمائے کرامو دَ اقوالو نه یو څو خبرے دَ توحید او شرک په باره کښے دَ الله تعالیٰ په توفیق او دَ مشائخو په محنت سره ستاسو په وړاندے عرض کړے دی لیکن په مسئله باندے تفصیلا پوهیدلو دَ پاره دا لاندینی کتابونه کتلے شئی:

| | |
|---|---|
| البصائر للمتوسلین بالمقابر | از شیخ مشائخنا شیخ القرآن محمد طاهرؒ |
| تقویة الایمان | از مجاهد اسلام شاه اسماعیل شهیدؒ |
| دعوة الحق | شیخ التفسیر مولانا محمد امیر بندیالویؒ |
| ګلدسته توحید | مولانا سرفراز خان صفدر صاحب |
| شرک کیا هے ؟ | مولانا عطاء الله بندیالوی صاحب |

بهر حال دَ شرک دا مرض ډیر مُهلک دے چه دے سره دَ انسان ټول عملونه بربادیږی او هغه دَ همیشه همیشه دَ پاره دَ جهنم مستحق جوړیږی لیکن نن صبا زمونږه کلمه ویونکی هم په دے مهلک

مرض(شرک) کښے مبتلا کیدلو سره دَ توحید او خپلے عقیدے نه ناخبره دی۔ دے دَ پاره دَ دین دا بنیادی مسئله ( بیان توحید او رد شرک) کومه چه دَ ټولو انبیاؤ مشترکه او ابتدائی مسئله ده، دَ دے اشاعت او تبلیغ دَ پاره دِ هر مؤحد پوهه لرونکے او دَ پیغمبری مشن خورولو او درد لرونکے مسلمان دَ توحید او سنت اشاعت دَ پاره میدان ته راؤځی او دَ قوم په اصلاح کښے دِ دَ صلاحیت مطابق کوششونه اوکړی او خپله فریضه دِ ادا کړی ۔ دا څه مختصر ژړا او فریاد دے کوم چه ما دَ خیر خواهئی په نیت سره دَ خپلو مسلمانانو رونړو په وړاندے کیښودو۔ اوس دِ عقل مند خلق په یخ زړه او دماغ سره دا دَ لوستلو نه پس قبول کړی: ؎

کھول کر آنکھیں مرے آئینہ گفتار میں
آنے والے دور کی دھندلی سی اک تصویر دیکھ
عشق کو فریاد لازم تھی سو وہ تو ہو چکی
اب ذرا دل تھام کر فریاد کی تاثیر دیکھ [اقبال]

اللــه تعالیٰ دِ مونږ ته او زمونږ مسلمان قوم ته دَ توحید پوهه،په دے باندے استقامت او دَ دے دَ اشاعت توفیق رانصیب کړی او دَ شرک دے خطرناک مرض نه دے مونږ بچ اولری اوساتی ۔ آمین

**تمت بالخیر**

**بنده محمد ایاز**

**بده بعد ظهر ۱۰ محرم الحرام ۱۴۱۹ھ ۶ مئی ۱۹۹۸ء**

**پشتو ترجمه جمعرات ۱۷ محرم الحرام ۱۴۳۰ھ ۱۵ جنوری ۲۰۰۹ء**